د جواهراتو لړۍ (۱)

د سرو زرو کرښې

د سید التابعین امام

# حسن بصري رحمه الله ویناوي

لیکوال

ابو رمان مولوي محمد غني فاروقي

CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړني :


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | امام حسن بصري رحمه الله وېناوې |
| لیکوال | :: | ابو رمان مولوي محمد غني فاروقي |
| کمپوز | :: | مولوي موسی قانت |
| ډیزاین چارې | :: | مجیب الله غریب دوست |
| خپرندوی | :: | باور خپرندویه ټولنه |
| لومړی چاپ | :: | 1401 هـ ش |
| د خپرونو لړ | :: | 104 |
| چاپ شمیر | :: | ۱۱۰۰ ټوکه |



د چاپ حقوق له باور خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.



باور کتاب پلورنځی، لاندینۍ پوړ، اسحق زی مارکېټ، بزازي څلورلارې، جلال اباد

اړیکه: 077-2702004 , 078-7730005 , 079-5353610



CamScanner

# ډالۍ!

**د توحید پر عقیده راستر شوي نوي زلمي ته!**

- هغه چې د قرآن کریم حافظ او مجود دی.
- د دارالقرآن والسنة د مدرسې د دویمې درجې طالب العلم دی.
- د نبوي جومات آنلاین حلقه کې استاد سعد ته د قران کریم تکراروونکی دی.
- د ښکلي خط لرونکی او خطاط دی.
- ان شاء الله د قران او سنت اړوند لوړې زده کړې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په محبوب ښار مدینه منوره کې کوي او د قران او سنت له ګاڼې سره به د دعوت منبر ته ور پورته کېږي.
- هوکې؛ ګران او همتناک رُمان فاروقي ته!

رب عز وجل دې یې ژوند د ایمان، توحید او خوږو اخلاقو پر خوشبوګانو خوشبویه ولري.

**په مینه**

**م فاروقي**

CamScanner

## د سرو زرو کرښې

سیدالتابعین امام حسن بصري رحمه الله د خپلې زمانې داسې عالم، زاهد، مقتداء او د نوراني پوهې او حکمت نه برخمن شخصیت و، د یاد امام د فضلیت معیارونه خورا زیات دي، چې وروسته به یې د ده په پېژندنه او ځانګړنه کې ولولئ.

د فضیلت ستر لامل یې نبوي خاندان ته په نسبت کې دی او هغه دا چې ام المؤمنین ام سلمة رضي الله عنها ده ته خپلې مبارکې شېدې ورکړې وې، اسلامي عالمان او د سیرت څېړونکي، د ده په علم، تقوا او محبوبیت کې د همدې مبارکو شېدو اغېز یادوي، څومره سپېڅلی او د روښانه مستقبل لرونکی ماشوم و، چې د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ګرانې، مبارزې او مهاجرې مېرمنې ام سلمة رضي الله عنها په شېدو ارام او کرارېده.

حسن بصري رحمه الله به اسلامي امت ته څنګه ګران نه و، چې امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه ورته داسې دعا کړې، ای الله! (حسن بصري) ته په دین کې پوهه ورکړې او خلکو ته یې ګران کړې.

موږ هم د ثواب او د دې د خپراوي په نیت د دې محبوب انسان مواعظو، نصیحتونو، ویناوو او ځانګړنو پسې د (البدایة والنهایة) او نورو مستندو کتابونو پاڼې واړولې او د ده د پراخ سیرت او مواعظو څخه مو د ده د علم، حکمت ځینې برخې، خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته را وژباړلې، څو نورو مسلمانانو ته هم د ده د ایماني مواعظو رڼا ورسېږي، که الله عز وجل توفیق راکړ د جواهراتو په لړۍ کې به د سرو زرو کرښو کتاب پسې دویم کتاب (عبدالله بن مبارک رحمه الله ویناوې) وي او هوډ مو دا دی چې د (جواهراتو) لړۍ کې د صحابه وو او تابعینو د ځلانده خپرو مواعظ او ویناوې د ځوان کهول مخې ته کېږدو.

په پای کې د مننې په پار د حقوقو او سیاسي علومو ماسټر سید عزت الله سیدي چې یاد یې اړین بولم، چې تل د مستندو کتابونو په برخه کې راسره مرسته جاري ساتلې، د باور خپرندویه ټولنې له مشرتابه نه هم د زړه له تله مننه کوم، چې په ټوله مینه او اخلاص د ایمان او علم کتابونه چاپ کړي، د ګرانې لورکۍ نجلا فاروقي ژوند دې هم د ایمان، علم او تقوا په سینګار ښایسته شي، چې د خپلې وړتیا په اندازه مرسته یې راسره کړې، له هغو ټولو منندوی یم، چې د سرو زرو کرښې یې کمپوز او ډیزاین کړې.

په درنښت

محمد غني فاروقي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د سيد التابعين امام حسن البصري رحمه الله پېژندنه!

حسن بن أبي الحسن يسار، د حسن بصري پلار د ميتا د سيمې و.

اسم کنيه يې ابو سعيد ده.

زوکړه يې (۲۱) هجري کې وه، هغه مهال چې د امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه د خلافت دوه کلونه پاتې و.

- مړينه يې (۱۱۰) هجري.
- د مور نوم يې خيرة دی.
- پلار يې د زيد بن ثابت رضي الله عنه ازاد کړی مريی و.

مور يې د ام المؤمنين ام سلمة المخزومية رضي الله عنها وينځه وه.

### د حسن بصري رحمه الله ځانګړنې

ام المؤمنين ام سلمة رضي الله عنها به چې کله ام الحسن (د حسن مور) د څه کار پسې لېږله، هغه مهال چې حسن بصري کوچنی ماشوم و؛ نو حسن به ژړل، بيا به ام المؤمنين ورپاڅېده، حسن به يې کرار وه او د خپلې مبارکې سينې شيدې به يې ورکولې، کله ـ کله به يې حسن په غېږ کې را واخيست له کور نه د باندې صحابه و ته به يې را وويست او هغوی به حسن ته دعاګانې کولې.

د سلف صالحينو د وينا پر استناد، ويل کېږي، چې حسن بصري ته ورکړل شوی حکمت او علمونه، د هغه رضاعت (شېدو ورکړې) له برکت څخه سرچينه اخلي، چې نسبت يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته شوی.(البداية والنهاية، ۹/۲۵۱)

یو ځل یې امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه ته راوویست، هغه ورته داسې دعا وکړه:

اَللّٰهُمَّ فَقِّهۡهُ فِي الدِّيۡنِ وَ حَبِّبۡهُ اِلَى النَّاسِ.

**ژباړه:** ای الله! په دین کې پوهه ورکړې او خلکو ته یې ګران کړې.

❖ حسن بصري رحمه الله وادی القری کې را ستر شو، د جمعې لمانځه ته به حاضرېده او د امیر المؤمنین عثمان رضي الله عنه خطبه به یې اورېده.

معمر بن سلیمان وایي: زما پلار به ویل: حسن د بصرې والو عالم دی.

❖ حسن بصري رحمه الله د صحیح سند له مخې نږدې پنځوس صحابه و څخه د احادیثو روایت کړی.

دا وایي: عثمان رضي الله عنه مې یو ځل ولید، چې په نبوي جومات کې ویده و، تر دې چې مؤذن راغی، بیا پاڅېده او د شګو نښې مې د هغه پر اړخ ولیدې.

زه به د عثمان رضي الله عنه د خلافت په مهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مېرمنو کورونو ته ننوتم، لاس به مې چت ته رساوه او دغه مهال تازه د زلمیتوب عمر ته رسېدلی وم.

❖ حسن بصري رحمه الله به ویل: د عثمان رضي الله عنه د شهادت په ورځ زه د څوارلسو کلونو په عمر وم.

❖ حزم رحمه الله وایي: حسن بصري رحمه الله مکې ته راغلی و، د مقام ابراهیم څنګ ته یې لمونځ وکړ، ومې لیدل چې عطاء، طاؤس، مجاهد او عمرو بن شعیب په څېر ستر ـ ستر عالمان یې څنګ ته راغلل او ورسره کیناستل.

❖ امام ذهبي رحمه الله ليکلي: دا ښېلگه موږ ته د حسن بصري رحمه الله د لوړ شخصيت او علميت ښکارندويي کوي.

❖ حسن بصري رحمه الله، ډېر جهاد ته تلونکی او مجاهد انسان و، د خراسان د امير ربيع بن زياد ليکونکی هم و.

❖ حسن بصري رحمه الله غزاگانو ته له تگ سره ـ سره د بصرې مفتي هم و.

❖ دا وايي عثمان رضي الله عنه مې يو ځل وليد، چې په نبوي جومات کې ويده و.

❖ حسن بصري رحمه الله جامع عالم، د لوړې درجې فقيه کره او مستند عالم و، امين، عبادت کوونکی، ناسک (په احکامو پوه) او د ډېر علم لرونکی و، ژبه کې فصيح و او هم له ډېرې ښکلا برخمن انسان و.

❖ اصمعي د خپل پلار نه روايت کړی، چې د حسن بصري رحمه الله په څېر د پلنو لېچو خاوند بل څوک مې نه دی ليدلی، د لېچې پلنوالی يې د يوې لوېشت په اندازه و.

❖ د فزيکي بڼې او جوړښت له پلوه، پوره، نمکين او ښايسته څېره يې وه او ترو تازه و.

او له مشهورو بهادرو او ځيگر ورو انسانانو څخه و، مرسل روايتونه يې ډېر کره نه دي.

❖ عوام بن حوشب وايي: حسن بصري رحمه الله بې مثاله انسان و.

❖ ابو بردة وايي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه و ته ورته خويونو او صفتونو کې مې د ده په څېر بل څوک نه دی ليدلی.

CS CamScanner

❖ انس بن مالک رضي الله عنه به ویل: له حسن بصري رحمه الله نه د مسئلو پوښتنه کوئ، ده مسائل یاد کړي او له موږه هیر شوي.

❖ مطر الوراق وایي: حسن بصري رحمه الله به چې کله را ښکاره شو، داسې به معلومېده، ګوا چې له اخرت نه راغلی او د اخرت خبرونه بیانوي.

❖ حسن بصري رحمه الله ځوان او د ډېر ښکلي مخ خاوند و.

❖ حسن بصري رحمه الله به هره جمعه خپلې ږیرې ته زېړ رنګ ورکاوه.

❖ ابو قتادة رحمه الله وایي: د حسن بصري رحمه الله د علم په څېر علم مې له هېڅ عالم سره نه دی موندلی، ده په عالمانو ځانګړی ځای او فضیلت لره.

❖ امة الحکم وایي: حسن بصري رحمه الله به د قرآن کریم د زده کړې لپاره، د حطان الرقاشي استاد څنګ ته راتله، د ده په څېر او د ښکلي مخ لرونکی مې کله نه دی لیدلی.

❖ ایوب السختیاني وایي: یو سړی به درې کاله د حسن بصري رحمه الله درس ته کېناسته، بیا به یې هم د ده د رعب او هیبت له امله ترې پوښتنه نه شوه کولی؟!

❖ معاذ بن معاذ وایي: اشعث ته مې وویل: تا له عطاء بن أبي رباح رحمه الله سره ملاقات هم کړی او بیا هم له تاسره د ځینو مسئلو په اړه پوښتنې دي، ولې دې ترې پوښتنه نه کوله؟ اشعث راته وویل: له حسن بصري رحمه الله نه وروسته مې چې له هر عالم او فقیه سره ناسته کړې په علم کې راته کوچنی ښکاره شوی دی.

❖ ابو هلال وایي: زه له قتادة سره وم، چې د حسن بصري رحمه الله د مرګ خبر راغی، ما وویل: حسن بصري رحمه الله سم په علم کې

غوپه شوی و.

قتادة وويل: نه؛ داسې نه ده، بلکې هغه علم کې را ټوکېدلی او ستر شوی و او د علم خزانه یې تر لاسه کړ وه او علم یې څکلی و.

په الله سوگند! له هغه سره یواځې هغه څوک کینه ساتي، چې له خوارجو څخه وي.

❖ قتادة وايي: د حسن بصري رحمه الله په څېر، د بشپړ مرؤة او سړيتوب خاوند مې بل څوک نه دی لیدلی.

❖ علي بن زيد وايي: د سعيد بن المسيب، عروة، قاسم رحمهم الله او داسې نورو مې اورېدل کړي؛ مگر د حسن بصري په څېر مې څوک نه دی لیدلی، که ده صحابه موندلی وی، یانې د هغوی همزولی او د هغوی په زمانه کې و، نو له ده څخه به نه وو مخکې شوی.

❖ حجاج بن أرطاة وايي: له عطاء بن أبي رباح رحمه الله نه مې د جنازې لمانځه کې د قرأت په اړه وپوښتل: هغه راته وويل: په دې اړه مو څه نه دي اورېدلي او نه یې د قرأت په اړه علم لرو!

ما ورته وويل: حسن بصري رحمه الله وايي: چې د جنازې په لمانځه کې قرأت لوستل شته؛

❖ عطاء بن أبي رباح رحمه الله وويل: هغه ستر امام دی، چې اقتداء ور پسې کېدلی شي.

❖ یونس بن عبید وايي: د حسن بصري رحمه الله په څېر مې بل هېڅوک داسې نه دی لیدلی، چې وینا یې عمل ته ډېره نږدې وي.

❖ سلام بن مسکين وايي: حسن بصري رحمه الله مې ولیده طلايي چپنه یې پر غاړه وه.

❖ عوف وايي: داسې سړی مې ونه لید چې له حسن بصري رحمه الله نه دې هغه ته د جنت لاره ښه معلومه وي، یانې د جنت لاره یوازې ده ته ښه معلومه وه.

❖ خالد بن صفوان وايي: له مسلمة بن عبدالملک سره مې ملاقات وشو هغه راته وویل: خالده، د بصرې د حسن په اړه معلومات راکړه!
ما ورته وویل: الله عز وجل دې ستاسې حال ښه کړي سمه ده، د هغه په اړه مو په پوره علم خبروم، زه یې څنګ ته ګاونډي یم او د ناستې ملګری یې یم، له پخوا نه یې پېژنم، د هغه چا په څېر دی، چې پټ او ښکاره یې یو ډول وي او وینا او عمل یې سره ورته وي، که پر کوم کار کېني، پر هماغه پاڅیږي او که پر یو کار یا خبره پاڅیږي، پر هماغه بیا کیني هم؛ که د کوم کار حکم کوي، لومړی پري پخپله عمل کوي، که له کوم کار نه خلک منع کوي، لومړی پخپله هغه کار پرېږدي، دی له خلکو بې پروا دی او ګورم چې خلک ده ته اړ او محتاج دي.
مسلمة بن عبدالملک وویل: بس دی، کیف یضل قوم هذا فیهم.
**ژباړه:** هغه خلک به څنګه بې لارې شي، چې د حسن بصري رحمه الله په څېر خلک پکې وي.

❖ حجاج اسود وايي: یو سړي ارمان وکړ، کاش، چې د حسن بصري رحمه الله زهد، د ابن سیرین ورع (ځان ساتنه) د عامر بن عبد قیس عبادت او د سعید بن المسیب په څېر فقاهت مې لرلی، د مطرف بن الشخیر یې هم څه شی یاد کړ، حجاج وايي: له غور او نظر وروسته څرګنده شوه، چې دا ټول صفتونه په حسن بصري رحمه الله کې وو.

• ابو قتاده وايي: عمر بن الخطاب رضي الله ته په رأيه کې ورته مې بل څوک نه دی لیدلی.

حسن بصري رحمه الله به چې خبرې کولې، داسې وې ګوا چې مرغلرې دي، له هغه وروسته ځینو نورو هم هڅه وکړه، چې د هغه په څېر خبرې وکړي، خبرې یې داسې وې ګوا چې کانګې (قی) یې له خولو څخه راوځي.

• حسن بصري رحمه الله به د سپینو ورځو (ایام بیض) اشهر الحرم او د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو روژې نیولې.

حسن بصري رحمه الله د حلالو او حرامو په اړه ښه عالم و.

همام بن حسان وايي: حسن بصري رحمه الله د خپلې زمانې ستر بهادر انسان و.

مهلب رضي الله عنه به چې د مشرکانو په وړاندې جنګ ته وته، حسن بصري رحمه الله به یې پوځ کې مخکې کاوه.

مطر وايي: د حسن بصري رحمه الله د ناروغۍ پوښتنې ته ورغلو په کور کې یې هېڅ شی نه و، نه فرش، نه قالین، نه بالخت او نه پیزی، یوازې یو تخت و، چې د پیزي د لوخونه اوبدل شوی و.

د حسن بصري رحمه الله د دېګ خوشبويي، د پخ کړی شوي ښوروا له خوشبويۍ نه ډېره زیاته وه.

حسن بصري رحمه الله د نبوي احادیثو ځانګړې نسخه لري، چې نسخة الحسن باندې یادېږي، دې نسخه کې یې پنځوس احادیث له سمرة بن جندب رضي الله عنه نه روایت کړي، ځکه سماع (اورېدل) یې له سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه ثابت دي، د عقیقې حدیث یې هم له سمرة رضي الله عنه څخه اورېدلی دی،

دغه راز د مثلې حدیث یې هم له سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه اورېدلی، دا چې د حسن بصري رحمه الله د احادیثو په نسخه احتجاج او استدلال کېدی شي که څنګه، په دې اړه د اهل علمو اختلاف دی.(والله اعلم)

❖ عبدالله بن الحسن وایي: پلار مې نږدی (۸۸) کاله ژوندی و.

❖ امام ذهبي رحمه الله وایي: د رجب میاشتې لومړیو کې وفات شو، جنازې ته یې ډېر زیات خلک حاضر شوي و، د جمعې ورځ وه، د جمعې د لمانځه نه وروسته پرې بصره کې د جنازې لمونځ وکړی شو، ګڼه ګوڼه ډېره وه او ډېرو خلکو یې جنازه بدرګه کړه، د ګڼې ګوڼې له امله په دغه ورځ د بصرې په جامع جومات کې د مازیګر جمع هم ونه شوه.(سیر اعلام النبلاء، ۴۵۶/۵، ۴۷۳)

❖ د مواعظ الامام الحسن بصري رحمه الله لیکوال یې په اړه لیکي:
ویل کېږي، خبرې یې د پیغمبرانو خبروته ورته وې او سیرت یې د صحابه و سیرت ته ورته و، همدا لامل دی، چې الله تعالی یې خبروته د خلکو په زړونو کې ځای ورکړه؛

❖ د ژوند په هر ډګر کې یې د خواږه کلام جدا ـ جدا برخې شته، چې د حق لور ته بلونکي او د خیر لور ته لېوالتیا بښونکي دي.

❖ خبرو کې یې له شر نه کرکه ده او خبرې یې د شیانو حقیقت ته رسوونکي دي، ځکه خبرې یې د ژوند په ژوند کې د تطبیق له میدان نه تېرې شوې دي، تش خبرې نه دي، چې د فکر له ګانې اخیستل شوې وي او حقیقت نه لري.

❖ خبرو کې د تجربې لنډیز دی، ایمان او عمل پکې دواړه لیدل کېږي؛ ځکه رښتیني تعبیرونه لري.

❖ د علمي پر مختګ له امله د شيخ البصرة (د بصرې عالم) لقب ورکول شوی و.

❖ فقيه، محدث او مفسر و، ويناوې يې د فقهي او احاديثو په کتابونو کې شته او احاديثو کې مرويات يې د احاديثو په کتابونو کې شته وعظ يې په زړونو اغېز کاوه.

❖ مالک بن رباح رحمه الله وايي: د حسن بصري، سعيد بن جبير او دې ته د ورته عالمانو پر خبرو او نصيحت به الله تعالی ډلې - ډلې خلک برابرول او زړونه به يې (پر حق) ژوندي کېدل.

❖ ابو بکر الهذلي ويلي: دولسو کلونو کې يې قرآن کريم حفظ کړی و، تر هغې به له يو سورت نه بل سورت ته نه واته څو به يې چې د حفظ کړی شوي سورت پر تفسير او شان نزول ځان پوه کړی نه و، هېڅ يوه اشرفۍ يې په سوداګرۍ کې نه کاروله او نه د حاکم امير (باچا) د لورې چېرې پر دنده ګومارل شوی و.

## د وفات په مهال يې زرين وصيت ولولئ!

❖ ابان بن محبر وايي: هغه مهال چې د حسن بصري رحمه الله د مرګ وخت نږدې شو، ځينې ملګري يې خنګ ته ورغلل، ورته يې وويل: ابو سعيده! موږ ته داسې درې خبرې د توښې په ډول پرېږده، چې موږ ترې ګټه تر لاسه کړو!

حسن بصري رحمه الله وويل: زه تاسې ته درې خبرې د توښې په ډول پرېږدم، دا واخلئ او بيا زما له خنګ نه پاڅېږئ! ما هغه ته پرېږدئ، چې د کوم په طرف مې مخ اړولی.

ـ له څه کاره چې منع شوي يئ، په ټولو خلکو کې د هغه کار ښه پرېښودونکي شئ.

ـ د نېکۍ د کوم کار په اړه چې تاسې ته حکم شوی، پر هغې ښه عمل کوونکي شئ او پوه شئ چې ستاسې قدمونه پر دوه ډوله دي.
د یو ډول قدمونو ثواب تاسې لپاره دی، یانې (هغه چې د خیر په لاره کې پورته کړی شي، لکه لمانځه ته تلل).
د دویم ډول قدمونو وبال او گناه تاسې لپاره ده، یانې ( هغه قدمونه چې د شر او گناه په لاره کې پورته کړی شي) اوس نو تاسې پخپله وگورئ، چې سهار مهال چېرې ځئ او شپه مهال بېرته چېرې راځئ؟.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۹،۲۷)

❖ حافظ ابو نعیم الاصفهاني رحمه الله په حلیة الاولیاء کې د حسن بصري رحمه الله له غرائب الحدیث نه هم خو بېلگی را نقل کړي، مونږ هم ترې خو بېلگې د سرو زرو کرښو ته را نقل کړي.

❖ حسن بصري، له عمران بن حصین رضي الله عنه نه روایت کړی او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې شکه، الله عز وجل دا دین د خپل ځان لپاره خالص گرځولی او ستاسې له دې دین سره دوه خویونه ښاییږي، چې یو خوی سخاوت او بل یې ښه اخلاص دي؛ نو خبر شئ او دین مو پر دې دواړو خویونو ډولی کړئ.(کنز العمال، ۱۵۹۸۹/٦)

❖ حسن بصري رحمه الله له عمران بن حصین، جابر بن عبدالله او ابو هریرة رضي الله عنهم نه روایت کړی، دوی وایي: (رسول الله صلی الله علیه وسلم د میږي، د شاتو مچی، هدهد(ملا چرگک) او صرد له وژلو نه منع کړې ده.

او دغه راز له دې نه يې منع کړې، چې د الله تعالی نوم پر لاړو پاک او لرې کړی شي).(ابو داود)

- حسن بصري رحمه الله له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت کړی: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې په دنيا کې دوه ژبې وي، الله تعالی به هغه ته د قيامت په ورځ، د اور دوه ژبې ورکړي.(مجمع الزوائد)
- حسن بصري رحمه الله له انس رضي الله عنه څخه د حديث روايت کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: (نېکي د زړه رڼا، د مخ سينګار دی او د عمل پياوړتيا ده، ګناه د زړه تياره، د مخ بد رنګي او په عمل کې کمزوري ده.(کنز العمال، حلية الاولياء، ۱۴۹/۲)

## ورځ دې مېلمنه ده!

د ادم زويه! ورځ دې مېلمنه ده، که احسان او ښه سلوک ورسره وکړې دا ځي او ښه به دې وايي او که نا سم سلوک ورسره وکړې هم ځي او بد به دې وايي شپه هم داسې ده.(مواعظ الامام حسن البصري، ۴۵ مخ)

............؟

ځکه لږه موده وروسته دا ستا قبر دی، ته له هاغې ورځې راهيسې د خپل عمر د ودانۍ پر نړولو لګېدلی يې، چې د مور له ګېډې نه راوتلی يې.(المصدر السابق، ۴۵)

## د ورځو غونچه!

بنيادمه! ته له ورځو جوړ يې، هر کله چې يوه ورځ ځي، ورسره ستا يوه برخه ځي.(المصدر السابق، ۴۵)

## وینه او غوښه دې ساته!

بنیادمه! د دین ساتنه دې کوه، دا ستا وینه او غوښه ده که دین دې ساتلی و، وینه او غوښه دې ساتلې ده او که خبره بل ډول وه، بیا د الله نه پناه وغواړه، دا بیا نه مړ کېدونکی اور دی، نه رغېدونکی تکلیف دی، تلپاتې کېدونکی عذاب او کړاو دی او نه مړ کېدونکی نفس دی.(مواعظ الامام الحسن البصري،۴٦ مخ)

## زړونه او جامې؟!

له تاسې وړاندې د مخکینیو خلکو زړونه نرم و او جامې یې سختې وې، ستاسې زړونه سخت او جامې مو نرمې دي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۴۸)

## د سرو زرو غونډۍ

❖ یوازې مؤمن ترې وېره لري اومنافق ترې ځان په امن نیسي.(البداية والنهاية، ۲۷۳/۹)

یو چا حسن بصري رحمه الله ته وویل: یوه ډله وايي: موږ له نفاق نه وېره نه لرو، حسن بصری رحمه الله وویل: پر الله سوګند! که زه پر دې پوه شم چې له نفاق نه خلاص یم، دا راته د سرو زرو له غونډۍ نه غوره دی، دغه راز ده به ویل: د زړه او ژبې اختلاف، د پټ او ښکاره اختلاف له منافقت څخه دي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۴۹)

## پر قرآن ځان تول کړه!

الله تعالی دې پر هغه کس رحم وکړي، چې د الله عز وجل له کتاب سره په خلوت کې خپل ځان د الله عز وجل کتاب ته وړاندې کړي، که ځان د الله تعالی د کتاب سره موافق وګوري، د الله حمد او ثناء دې ووايي او د الله نه دې زیات فضل او لورینه وغواړي

او که ځان یې د قرآن کریم مخالفت احساس کړ، ځان دی بند کړي، له زړه سره دې الله ته ور وګرځي او ژر دې ور وګرځي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٥٩)

## پنځه سترې کلمې!

د تعجب او حیرانتیا خبره ده، چې عمجن انسان څنګه له پنځو کلمونه غافل دی او پر دې هم پوهېږي، چې ددې کلمو لومړي کلمه ویونکي، الله عز وجل پر څومره بدلو نازولي.

❖ الله عز وجل وایي:

وَ لَنَبۡلُوَنَّكُمۡ بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَ الۡجُوۡعِ وَ نَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ وَ الۡاَنۡفُسِ وَ الثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾ الَّذِیۡنَ اِذَاۤ اَصَابَتۡهُمۡ مُّصِیۡبَةٌ ۙ قَالُوۡۤا اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓئِكَ عَلَیۡهِمۡ صَلَوٰتٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ وَ رَحۡمَةٌ ۟ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾.(البقرة)

**ژباړه:** او موږ به ارو مرو په وېره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عائداتو په خساره کې په اخته کولو پر تاسې ازمېښت کوو، ای پېغمبره! هغو کسانو ته زېری ورکړه، چې په دې حالاتو کې صبر وکړي * او د مصیبت راتلو په وخت کې ووايي، چې موږ د الله یو او د هماغه الله لوري ته زموږ ورګرځېدل دی * چې پر هغو به د هغو د رب زیاتې پېرزوینې او رحمت وي او همدغه شان خلك پر سمه لار روان دي.

د لومړۍ کلمې نه مراد د (انا لله و انا اليه راجعون) کلمه ده.

دویمه کلمه!

❖ الله عز وجل وایي:

اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ وَّ قَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ فَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ ۙ وَّ اتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾. (ال عمران)

**ژباړه:** هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وویل: چې ستاسې پر خلاف لویې لښکرې راغونډې شوې دي، له هغو نه ووېرېږئ؛ نو ددې په اورېدو یې نور هم ایمان پیاوړی شو او هغو ځواب ورکړ، چې زموږ لپاره الله کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی * په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لورېینې سره بېرته ستانه شول، هغو ته هېڅ راز زیان هم و نه رسېده او د الله له خوښې سره سم تګ کولو مرتبه یې هم وموندله، الله ډېر ستر لورېوونکی دی.

درېیمه کلمه:

وَ اُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾ فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَ حَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾. (غافر)

**ژباړه:** او خپله معامله زه الله ته سپارم، الله د خپلو بنده ګانو لیدونکی دی * په پای کې (هغو کسانو چې ډېرې ناوړه دسیسې یې د هغه مؤمن پرضد په کار واچولې) ، الله له هغو ټولو نه هغه وساته او د فرعون ملګري پخپله په ډېر بد عذاب کې راګیر شول.

خلورمه کلمه:

وَ ذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَ نَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ وَ كَذٰلِكَ نُـْۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾. (الأنبياء)

ژباړه: او موږ د کب څښتن هم ونازوه، کله چې هغه په غوسه تللی و او انګېرلې يې وه، چې موږ به هغه مواخذه نه کړو، په پای کې هغه په تررړميو کې اواز وکړ چې: (نشته بل معبود مګر ته يې، پاک دی ستا ذات، بېشکه مالندهون وکړ * هله نو موږ د هغه د عاقبو له کره او له غم نه مو هغه وژغوره او په دغه شان موږ مؤمنان ژغورو.

پنځمه کلمه:

وَ مَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ اِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا وَ ثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَ انْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٤٧﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَ حُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٤٨﴾. (ال عمران)

ژباړه: د هغو دعا صرف دا وه چې، ای زموږ پروردګاره! زموږ خطاوې او ګناوې او زموږ په کار کې زموږ تيری راوبښه، زموږ قدمونه محکم کړه او پر کافرانو زموږ د برلاسی لپاره را سره مرسته وکړه * په پای کې الله هغو ته د دنيا ثواب هم ورکړ او له هغه نه غوره ثواب يې په اخرت کې هم ور په برخه کړ، د الله همدا راز نيك عمله کسان خوښېږي. (مواعظ و اقوال الصالحين و الصالحات، ۷ ص)

## اسماعیل علیه السلام څنګه ستایل شوی؟

الله تعالی دې پر هغه سړي رحم وکړي، چې خپل ورور او د کورنۍ غړو ته نصیحت کوي وايي: د لمانځه، زکات، ګاوندیانو، ورونو، ملګرو او استوګنځایونو پاملرنه کوئ، کېدی شي الله درباندې رحم وکړي، بې شکه الله عز وجل د خپلو بنده ګانو څخه د خپل یو بنده (اسماعیل علیه السلام) ستاینه داسې کړې.

وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَوٰةِ وَالزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾.(مریم)

**ژباړه: هغه خپلې کورنۍ ته د لمانځه او زکات حکم کاو او د خپل رب په وړاندې یو غوره انسان و.**

## مسلمان او مؤمن!

بنیادمه! ته څنګه مسلمان کېدلی شې، چې ګاونډی دې له ضرره بچ نه دی؟ او ته څنګه مؤمن کېدلی شې چې خلک له تا نه په امن نه دي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٦٠)

## د زوی مبارکي!

د حسن بصري رحمه الله په مجلس کې، یو سړي بل سړي ته د زوی مبارکۍ کې وویل: د آسونو خاوند دې درته مبارک وي!

حسن بصري رحمه الله وویل: کېدی شي د خرو خاوند وي.

بیا یې وویل: الله چې چاته زوی ورکړي، ته ورته ووایه، د بښونکي ذات شکر ادا کړه، ښښل شوی اولاد دې برکتي شه، ځواني یې په نصیب او نېکي یې روزي شه.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٦٤)

## ممتاز خلک!

که الله عز وجل غوښتی وی، تاسې ټول به یې شتمن کرځولی وی، هېڅ فقیر به درکې نه و او که غوښتی یې وی، تاسې ټول به یې فقیران گرځولي وی، هېڅ شتمن به درکې نه وی، مگر اصل حقیقت دا دی، چې الله ستاسې ځینې پر ځینو نورو ازمايي، ددې لپاره چې وگوري، چې تاسې څنگه عملونه کوئ، بیا الله خپلو بنده گانو ته د نېکو خويونو لارښوونه کړې، ویلي يې دي:

وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ وَ لَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ؕ۫ وَ مَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ۝۹ .(الحشر)

**ژباړه:** او پر خپل ځان باندې نورو ته ترجيح ورکوي اگر که پخپله محتاج وي هم، حقيقت دا دی کوم خلك چې د خپل زړه له تنگی نه وژغورل شول همغوی فلاح مېندونکي دي.

- حسن بصري رحمه الله وايي: زه د عثمان رضي الله عنه د شهادت په ورځ د څوارلسو کلونو په عمر کې وم، بیا حسن بصري رحمه الله وويل: که هېرېدل نه وی، علم به ډېر زيات وی.(سير اعلام النبلاء، ۴٦٠/۵)
- حجاج بن أرطاة وايي: د عطاء بن أبي رباح رحمه الله نه مې د جنازې په لمانځه کې د قرأت په اړه وپوښتل، هغه راته وويل: په دې اړه مو څه نه دي اوريدلي او نه راته جنازه کې د قرأت په اړه علم شته، ما ورته وويل: حسن بصري رحمه الله وايي: چې جنازه کې قرأت ويل شته، عطاء رحمه الله وويل: د هماغه پيروي پر ځان لازم کړه، هغه يو داسې ستر امام دی، چې اقتدأ ور پسې کېږي.(سير اعلام النبلاء، ۴٦۴/۵، معالی الاخلاق، مواعظ للشامي، ۱۸۷ص)

## زه ستاسې دوست یم!

قتادة رحمه الله وايي: موږ د حسن بصري رحمه الله څنګ ته ورغلو، هغه ویده و، سرته نږدې یې یوه ټوکرۍ اېښې وه، موږ هغه را ښکله، په هغې کې ډوډۍ او څه مېوه وه، موږ ترې خوراک پیل کړ، دغه وخت کې هغه هم را وېښ شو، خوشحاله او موسکانده شو او دا ایت یې ولوسته: (أَوْ صَدِيقِكُمْ).(النور، ٦١)

یانې زه ستاسې دوست یم، پر تاسې څه ګناه نشته.(سیر اعلام النبلاء، ۴٦٦)

## مرغلرې!

ایوب سختیاني وايي: حسن بصري رحمه الله به چې خبرې کولی تا به ویل، ګوا چې مرغلرې یې له خولې نه راوځي، له هغه نه وروسته ځینو خلکو خبرې پیل کړې؛ مګر داسې خبرې یې له خولو نه راوځي ګوا چې قئ یې له خولو څخه راوځي.(سیر اعلام النبلاء، ٦٦/٥)

## حقیقي عالم!

عمران القصیر وايي: له حسن بصري رحمه الله نه مې د یو څه شي په اړه وپوښتل: ورته ومې ویل، فقهاء یې په اړه داسې او داسې وايي: حسن بصري رحمه الله وویل: تا فقیه پر خپلو سترګو لیدلی؟ بیا یې وویل: بی شکه فقیه (عالم) هغه څوک دی، چې له دنیا څخه پرهېز او بې پرواه وي، پر دین پوهېږي او تل د الله عز وجل پر عبادت بوخت وي.(سیر اعلام النبلاء، ۴٦۵/۵)

## عزت په پیسه کې نه شته!

پر الله سوګند! چا چې درهم عزتمن شی ګڼلی، الله هغه کس خوار او ذلیل کړی.(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴٦۵/۵)

CamScanner

## ناکاره ملګري!

دینار او درهم هغه ناکاره ملګري دي، چې د ملګرتیا تر پایه درته هېڅ ګټه نه رسوي، یانې هله درته ګټه رسوي، چې کله درنه جدا شي.(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴٦٦/۵)

❖ ایوب وایي: حسن بصري رحمه الله به د مرغلرو په څېر خبرې کولې له هغه وروسته د ځینو خلکو له خولو نه داسې خبرې راوځي، ګوا چې کانګې (قی) یې له خولو څخه راوځي.

(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴٦٦/۵)

## محمدي امت او ډولي جنت!

هېڅ امت لپاره جنت دومره نه دی ډولي شوی، څومره چې دې امت لپاره ډولی کړی شوی، مګر بیا یې هم مینان نه لېدل کېږي.(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴٦٦/۵)

## د علم اغېز!

ډېر ځلې یو کس علم تر لاسه کوي، مګر خشوع او زهد یې په ژبه او سترګو کې نه لیدل کېږي.(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴۷۰/۵)

## تقدیر!

څوک چې تقدیر دروغ ګڼي کافر کېږي!. (سیر اعلام النبلاء، ۴٦۹/۵)

## حکمت!

اعمش وایي: حسن بصري رحمه الله به تل حکمت یادوه، تر دې چې الله یې پر ژبه حکمت جاري کړ.

د ابو جعفر باقر رحمه الله په وړاندې به چې امام حسن بصري رحمه الله یاد کړی شو، هغه به ویل: ددې سړي خبرې د پېغمبرانو خبرو ته ورته دي.(سیر اعلام النبلاء، ۴۷۱/۵)

## د عمر غونچه!

بنیادمه! ته له ورځو جوړ یې، کله چې یوه ورځ لاړه شي ستا ځینې برخه ځي.(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴۷۱/۵)

## خواشینې نړۍ!

مرګ دنیا وشرموله، اوس پکې عقلمن ته هېڅ خوشحالي پاتې نه ده.(حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴۷۱/۵)

## د غافل زړه نښه!

د مؤمن خندا د زړه له غفلت څخه وي. (حسن بصري، سیر اعلام النبلاء، ۴۷۱/۵)

## له رحمت نه برخمن خلک!

یو سړي له حسن بصري رحمه الله څخه وپوښتل: د الله ددې قول څه مقصد دی:

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾.(هود)

**ژباړه:** بېشکه که ستا رب غوښتلای؛ نو ټول انسانان یې یوه ډله ګرزولي شول؛ مګر اوس خو به هغوی په بېلا بېلو لارو تل روان وي * او له لارو ورکې نه به یوازې هغه خلك وژغول شي چې پر هغو ستا

د رب رحمت دی (د ټاکلو او غوره کولو) د همدغې (ازادی) لپاره خو یې هغوی پیدا کړي وو او ستا د رب هغه خبره پوره شوه چې هغه ویلي وو، چې زه به دوزخ له پېریانو او انسانانو ټولو نه ډک کړم.

حسن بن أبي الحسن رحمه الله وویل: د رحمت نه برخمن خلک اختلاف نه کوي او د همدې لپاره الله پیدا کړي دي، دوی یې د جنت لپاره پیدا کړي او دا نور یې دوزخ لپاره پیدا کړي دي.

خالد الحذَّاء وایي: ما ترې وپوښتل: ابو سعیده!

ادم علیه السلام اسمان لپاره پیدا شوی و او که د ځمکې لپاره؟

هغه وویل: د ځمکې لپاره؛ ما ورته وویل: که ځان یې ساتلی وی او له ونې څخه یې خوراک نه وی کړی بیا؟

حسن بصري رحمه الله وویل: ددې نه هیڅ خلاصی نه و، هرو مرو به یې ترې خوراک کاوه، ځکه د ځمکې لپاره پیدا شوی و.

خالد وایي: ما وویل:

مَآ اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ بِفٰتِنِيۡنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنۡ هُوَ صَالِ الۡجَحِيۡمِ ﴿۱۶۳﴾. (الصافات)

**ژباړه:** له الله نه هیڅوك نشئ اړولی * مگر صرف هغه څوك چې د دوزخ په لمبه شوي اور کې وریتېدونکی وي.

**څه مانا؟**

حسن بصري رحمه الله وویل: هوکی؛ شیطانان یوازې هغوی بې لارې کولی شي، چې الله عز وجل هغو لپاره دوزخ ته ننوتل غوره کړي وي.(سیر اعلام النبلاء، ۴۶۹/۵)

## هو؛ توبه شته!

اياس بن ابو تميمة وايي: له حسن بصري رحمه الله سره د ابو رجاء جنازې ته تللي وم، حسن بصري رحمه الله پر کچره سپور و او فرزدق شاعر پر خپل اوښ سپور او دده څنگ ته روان و، فرزدق ورته وويل: خلک ټول موږ ته راگوري او وايي، يو غوره انسان او دا بل ناکاره انسان دی.

حسن بصري رحمه الله ورته وويل: ابو فراسه! ډېر هغه خلک چې ببر سر، وېښتان يې گډوډ، په گردونو پټ چې زړې جامې لري له مانه غوره دي او له ډېرو بوډاگانو مشرکانو نه ته غوره يې (مسلمان خو يې که څه هم چې گناهگار يې).

ابو فراسه! مرگ لپاره دې څه تياری کړی؟ فرزدق وويل: د (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) کلمه او شهادت مې تيار کړی، حسن بصري رحمه الله ورته وويل: له کلمې سره شرطونه هم شته! پر پاک لمنو ښځمنو له تور لگولو څخه ځان وساته! فرزدق وويل: توبه شته؟

حسن بصري رحمه الله وويل: هو توبه شته!(سير اعلام النبلاء، ۴۷۱/۲)

- صبر خزانه ده، انسان د يو ساعت صبر په وسيله ټول خير تر لاسه کولی شي.(حسن بصري رحمه الله)
- علم په دوه ډوله دی، د ژبې علم، دا پر انسان د الله لپاره دليل دی او د زړه علم، همدا گټور علم دی.(حسن بصري رحمه الله)
- مؤمن کې ايمان او وېره را جمع وي او په منافق کې بد کاري او امن را جمع وي.(حسن بصري رحمه الله)

  یانې منافق له گناه سره ـ سره ځان له عذابه په امن گڼي.
- مصافحه او غبرکې لاس په لاس کې ورکول مينه زياتوي. (حسن بصري

رحمه الله)

- مؤمن په دنیا کې د بندي په څېر وی، تل هڅه کوي، چې خپله غاړه خلاصه کړي. (حسن بصري رحمه الله)
- ځیرک او عقلمن مسلمان سره چې څومره د الله د ښېګڼې کچه لوړیږي، هومره په ده کې د الله نه وېره زیاتیږي. (حسن بصري رحمه الله)
- کینه د مسلمان په دین کې دومره ژر خوریږي، څنګه چې خوړونکې ناروغي د انسان په بدن کې خوریږي.(حسن بصري رحمه الله)
- له هغه چانه ځان وساته چې د بل خبرې تاته راوړي، ژر ده چې ستا خبرې به هم بل ته یوسي.(حسن بصري رحمه الله)
- دا مروٌة او شرافت نه دی، چې په ورور ګټه وکړې.(حسن بصري رحمه الله)

## تهجد!

انسان د ګناه له امله، قیام الیل (تهجد) څخه بې برخې کیږی.(حسن بصري رحمه الله)

## دوه نه یو ځای کیږي!

دوه څیزونه هیڅ یو ځای کیږي نه! کینه او قناعت، دوه هیڅ بېلیږي نه، حرص او کینه.(حسن بصري رحمه الله)

## صنم!

- د هر امت لپاره یو بت وي، چې عبادت یې کیږي او زما د امت صنم دینار او درهم دی.(حسن بصري رحمه الله)

څومره چې د بنده امید اوږدیږي، هومره یې عمل خرابیږي.(حسن بصري رحمه الله)

- که عالمان نه وی، خلک به د ژوو (څارویو) په څېر وی.(حسن بصري رحمه الله)
- زموږ استغفار هم استغفار ته اړتیا لري.(حسن بصري رحمه الله)

## تواضع!

تواضع دې ته وايي، چې له کوره ووځې او هر څوک درسره مخامخ کېږي، له ځان نه يې غوره وګڼې.(حسن بصري رحمه الله)

## زما روزي بل څوک نه شي خوړلی!

پوهېږم، چې زما برخه روزي بل څوک نه شي اخيستلی، ځکه مې زړه ډاډه دی.(حسن بصري رحمه الله)

## هغومره عمل کوه، چې طاقت يې لرې!

د اسلام دين پياوړی دی، حق درووند دی او انسان کمزوری دی، انسان دې پر هغومره دين عمل وکړي، چې طاقت يې لري، انسان چې له خپل طاقت بره پر څه شي ځان مکلف کړي، دا وېره شته چې ستړی شي او عمل پرېږدي.(حسن بصري رحمه الله)

يونس وايي: حسن بصري رحمه الله ته چې کله مرګ نږدې شو هغه مهال يې (انا لله و انا اليه راجعون) ډېر - ډېر ويل، زوی يې ورپاڅېده، ورته يې وويل: پلاره غمجن دې کړو، څه شی (مصيبت) مو ليدلی؟

هغه وويل: دا نفس مې دی کنه؛ د ده په څېر بل ستر مصيبت راته نه دی رسېدلی.(سير اعلام النبلاء، ۴۷۲/۵)

## د ارمانونو ورځ!

د قیامت ورځ د ارمانونو ورځ ده، ډېر ځلې داسې کېږي، چې یو سړی مال جمع کوي، بیا مړ کېږي او مال بل چاته پرېږدي، الله عز وجل یې وارث ته د نېکۍ په لارو چارو کې د مال لګولو توفیق روزي کوي، ارمان به په دې کوي چې خپل مال به د بل چا د نېکیانو په میزان کې ګوري.(البدایة والنهایة، ۲۵۷/۹)

## پر قرآن د صحیح ایمان اغېز!

بنیادمه! په الله سوګند، که صحیح قرآن ولولې او بیا پرې ایمان ولرې، خفګان به دې په دنیا کې اوږد شي، وېره به دې سخته شي او ژړا به دې ډېره شي.(حسن بصري رحمه الله، حلیة الاولیاء، ۱۲۸/۲)

## جوړه ملګري!

➢ حکم بن حجل رحمه الله د ابن سیرین رحمه الله دوست و، دی د ابن سیرین رحمه الله په مړینه سخت غمجن شو تر دې چې ناروغ شو او خلک یې پوښتنې ته ورغلل، له څه مودې وروسته حکم رحمه الله خوب ولیده، د خوب کیسه داسې کوي: چې ابن سیرین رحمه الله مې ډېرې ښکلې بنګله کې ولید او ډېر خوشحال و، ورته مې وویل: وروره ته خو مې ولیدې، په ښه حال یې او په لیدو دې ډېر خوشحال شوم، دا راته ووایه چې د حسن بصري رحمه الله څه حال دی؟

حکم رحمه الله وایي: ابن سیرین رحمه الله راته وویل: هغه (۹۰) نوي درجې له مانه پورته تللی! ما وویل: دا د څه له امله؟ ابن سیرین رحمه الله راته وویل: **لامل یې دا دی چې هغه به په دنیا**

کې تل ډېر ژور خفګان کاوه، يانې دنيا يې د خوشحالۍ کور نه ګاڼه.(حلية الاولياء، ۱۲۷/۲)

➢ عيسی اليشکري وايي: د حسن بصري رحمه الله په خبر مې د اوړده خفګان ښتن نه دی ليدلی، تل به داسې ليدل کېده، ګوا چې پر تازه غم اخته شوی.(حلية الاولياء، ۱۲۷/۲)

## د سرو زرو کربښې!

امام حسن بصري رحمه الله، عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته د يو اوږد ليک په مضمون کې دا هم ليکلي و:

دنيا درېيو ورځې ده، تېره شوې ورځ چې هېڅ هيله يې نه کېږي، نن ورځ، په کومه کې چې ته يې، همدا ورځ غنيمت وګڼه او ګټه ترې

تر لاسه کړه او راتلونکې ورځ، معلومه نه ده، چې ته به پکې يې او که نه؟ څه پته ده، کېدی شي مخکې ترې مړ شې...

(حلية الاولياء، ۱۳۱/۲)

## غوره سوداګري!

بنيادمه! دنيا پر اخرت وپلوره، چې دواړه ګټور شي، اخرت پر دنيا مه پلوره، چې دواړه به زيانمن شي.(حسن بصري رحمه الله، حلية الاولياء، ۱۳۴/۲)

## عملنامه!

هَآؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ﴿١٩﴾ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾.(الحاقة)

**ژباړه:** هله وګورئ، ولولئ زما عملنامه* ما انګېرله چې زه ارو مرو له خپل حساب سره يو ځای کېدونکی يم.

امام حسن بصري رحمه الله د الله عز وجل په دې قول کې وايي:
مؤمن پر خپل رب ښه گومان لري، نو ښه عمل کوي او منافق پر خپل رب بد گومان لري، نو بد عمل کوي.(حلية الاولياء، ۲/۱۳۵)

## له اوره ژغوروونکي خويونه!

څوک چې څلور خويونه لري، الله تعالی يې پر دوزخ حراموي او له شيطان نه پناه ورکوي.
څوک چې د رغبت (تمې) او رهبت (وېرې) شهوت او غوسې پر مهال ځان کنترولوي.

## مرغلرې!

طلحة بن عمرو الحضرمي وايي: حسن بصري رحمه الله زموږ خواته راغی، زه له عطاء سره يو ځای هغه ته کېناستم، حسن بصري رحمه الله وويل: موږ ته دا خبره را رسېدلې چې الله تعالی وايي: (بنيادمه! پيداکړی ما يې او بنده گي د بل چا کوې زه دې يادوم او ته مې هېروې، زه دې را بلم او ته را څخه تېښته کوې، بې شکه دا چاره په ځمکه کې ستر ظلم دی) بيا حسن بصري رحمه الله دا ايت ولوسته:

يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۗ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾.(لقمان)

**ژباړه:** ای زويه! له الله سره څوک مه شريکوه، حق دا دی چې شرک ډېر لوی ظلم دی.

(حلية اولياء، ۲/۱۳۸)

## د نعمت شکرانه!

حسن بن أبي الحسن رحمه الله وايي: څوک چې د الله تعالی څه نعمت وګوري او بيا دا دعا ووايي:

«الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ»

نو الله تعالی يې د شتو خاوند کوي او نعمت ورته زياتوي.(حلية الاولياء، ۱۳۸/۲)

## پنځه غوره ځانګړنې!

- الله تعالی دې پر هغه چا رحم وکړي، چې زړه جامه اغوندي، يوه کتره ډوډۍ خوري، پر ځمکه پروت، پر خپلې ګناه ژاړي او په عبادت کې بوخت وي.(حلية الاولياء، ۱۳۹/۲)
- حسن بصري رحمه الله به قسم کاوه او ويل به يې چاچې درهم (پيسې) د عزت شی ګڼلی، الله عز وجل هغه کس خوار او ذليل کړی.(حلية الاولياء، ۱۴۱/۲)

## عزت له الله سره دی!

چېرې چې يې، د الله عز وجل عزت کوه، الله عز وجل به ستا عزت ساتي.(حسن بصري رحمه الله، حلية الاولياء، ۱۴۱/۲)

## يوازېتوب!

الله تعالی دې پر هغه سړي رحم وکړي، چې د قام قبيلې او کورنۍ د غړو پر ډېر والي نه دوکه کېږي، بنيادمه! ته به ځانته مري، ځانته به قبر ته ننوځې، ځانته به له قبره را پاڅېږې او ځانته به درسره حساب کېږي.(حسن بصري رحمه الله، حلية الاولياء، ۱۴۳/۲)

## غوره او ناکاره خلک!

داسې خلک مې ډېر لیدلي، چې خلکو ته به يې د نېکۍ حکم کاوه او خپله به يې پرې هم عمل کاوه، خلک به يې له بدو چارو منع کول او خپله به يې هم بدي چارې پرېښودلې، موږ په داسې خلکو کې پاتې شو، چې نورو ته د نېکۍ حکم کوي او پخپله ترې لرې کېږي، نور له بدو منع کوي او پخپله پکې اخته کېږي، گرانه ده، له دوی سره به څنگه ژوند وشي.(حلية الاولياء، ۱۴/۲)

## ړنگېدونکی کور!

د الله د حکم نافرماني مه کوئ، د الله د حکم نافرماني، د هغه کور ورانول دي، چې الله يې د ړنگولو پرېکړه کړې ده.(حسن بصري رحمه الله، حلية الاولياء، ۱۴۴/۲)

## غوره ایمان!

- له حسن بصري رحمه الله نه وپوښتل شو، ایمان څه ته وايي؟

حسن بصري رحمه الله وويل: صبر او سماحة ایمان دی، پوښتونکي وويل: صبر او سماحة څه ته وايي؟ حسن بصري رحمه الله وويل: صبر، له گناه نه ځان بندولو ته وايي او د الله عز وجل د حکمونو په ادا کولو کې نرمۍ او اسانۍ ته سماحة وايي.(حلية الاولياء،۱۴۴/۲)

- کره او گټور کار، پر خبرو غوره کول، عزت دی او وينا (خبرې) پر کار کولو غوره کول، تاوان او نقصان دي.(حلية الاولياء،۱۴۴/۲)
- صالح المري وايي: حسن بصري رحمه الله او فرقد السبخي، د واده وليمې ته بلل شوي و، هغوی دوی ته خو ډوله خواږه برابر او مخې ته کېښودل، فرقد له خوراک نه ډډه وکړه، حسن بصري رحمه الله

ورته وويل: فريقده څه خبره ده؟ ته داسې فکر کوي، چې د چپنې له امله دې، پر ملګرو فضيلت لرې ماته دا خبره رسېدلې، چې د دوزخ ډېری استوګن به د چپنو خاوندان وي.(حلية الاولياء،٢/١٤٤)

## د مؤمن سورلۍ!

- هيله او وېره دواړه د مؤمن سورلۍ دي.(حلية الاولياء،٢/١٤٤)
- په الله سوګند! بني اسرائيلو د دنيا د مينې له امله، د رحمن ذات له عبادت نه وروسته د بوتانو عبادت پيل کړی.(حلية الاولياء،٢/١٤٥)
- مسلمان تل لپاره د خپلې کړې ګناه له امله عمجن وي.(حلية الاولياء،٢/١٤٥)

## د رب ديدن!

حسن بصري رحمه الله به ويل:

که عبادت کوونکی پر دې پوه شي، چې دوی د قيامت په ورځ خپل رب نه شي ليدلی، د خفګان نه به مړه شي.(حلية الأولياء، ٢/ ١٤٧)

## دوه خويونه بېړنۍ اصلاح غواړي!

د مؤمن بنده دوه خويونه چې اصلاح شو، نور يې پخپله اصلاح کېږي، لومړی: ظالمانو لورته کږېدل، دويم: په نعمت کې سرکشي کول، الله عز وجل وايي:

وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿١١٣﴾.(هود)

**ژباړه:** د دغو ظالمانو لوري ته يو بخری مه کږېږئ که نه نو دوزخ به مو ونغاړي او تاسې به کوم داسې دوست او سرپرست و نه مومئ

چې له الله نه مو وژغورلی شي او له هېڅ يو ځای نه به تاسې ته مرسته ونه رسېږي.

او الله عز وجل وايي:

كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَ لَا تَطْغَوْا فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَ مَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ﴿٨١﴾.

**ژباړه:** خورئ زموږ پاکه درکړې روزي او د هغې په خوراك کې سرکشي مکوئ او که نه نو پر تاسې به زما غضب پرېوځي او په چا باندې چې زما غضب نازل شو هغه نو وغورځېده.

(طه)(حلية الأولياء، ۱۴۶/۲)

## غاړه دې ازاده کړه!

مؤمن په دنیا کې د بندي په څېر دی، تل د خپلې غاړې د خلاصولو هڅه کوي، الله سره د ملاقات تر مهاله دِ امن احساس نه کوي؛ ځکه دې پوهېږي چې د ټولو چارو په اړه نیول کېږي.

## پر جامو د دین ساتنه!

مؤمن پر خپله جامه هم د دین ساتنه کوي، یانې ښکلې او سپېڅلې جامې کاروي.(سير اعلام النبلاء، ۴۶۵/۵)

## د کم عقلتوب لامل!

- يزيد بن حازم وايي: حسن بصري رحمه الله له جومات څخه ووت، ځینې کسان هم ورپسې شو، حسن بصري رحمه الله شاته وکتل او دې کسانو ته يې وويل:

د ګاولو او پیزار غږونه چې کوم سړي پسې ډېر اورېدل کېږي، هغه

يې له امله ډېر ژر کم عقل کېږي.(سير اعلام النبلاء، ۴۶۵/۵)

- ياني ډېر خلي ځينې انسانان ددې له امله بې لارې شي او څاوند ترې ورک شي، چې ډېر خلک ورپسې وروسته روان وي.(فاروقي)
- د ګناه پرېښودل، له توبې نه ډېر اسانه دي.(حسن بصري رحمه الله)
- ته خپل ځان په امن کې حسابوې او بې غمه يې، کېدی شي ګناه دې کړې وي او توبه دې ايستلې نه وي، نېک عملونه به کوې او قبليږي به نه؛.(حسن بصري رحمه الله)

## دنيا کله خوندوره کېږي!

دنيا سپکه وګڼئ، په الله سوګند! دا هغه مهال خوندوره کېږي، چې ته يې کله سپکه وګڼې.(سير اعلام النبلاء، ۴۶۷/۵)

## خواږه په صدقه کې!

ډېر داسې خلک (صحابه) مې ليدلي چې دنيا يې پر وړاندې له خاورو نه هم ډېره سپکه وه، ډېرې داسې خلک مې ليدلي چې ماښامنې لپاره به يې ډېر کم څه خواږه لرل، له کمښت سره ـ سره به يې ويل: دا ټول پخپله نه خورم ځينې برخه به يې د الله تعالی لپاره ورکوم، څه برخه به يې صدقه کړه، که څه هم چې صدقه کړې شوې برخې ته به له نورو ډېر محتاج و.(مواعظ الحسن البصري،۴۷ ص)

## بدري صحابه!

بنيادمه! مړ شې؛ ايا ته د الله عز وجل سره د جنګ کولو طاقت لرې؟!

څوک چې د الله نافرماني کوي، په تحقيق سره هغه له الله سره جنګ کوي.

CamScanner

په الله قسم! اویا بدري صحابه مې لیدلي، د ډېرو پر غاړه د وړۍ جامې وې، که تاسې هغوی لیدلی وی، د لېونو گومان به مو پرې کړی وی او که هغوی ستاسو غوره خلک لیدلی وی ویلي به یې وی چې دوی د ثواب څه برخه نه لري او که ستاسې بدترین کسان یې لیدلی وی؛ نو ویلي به یې و، چې دوی د حساب په ورځ ایمان نه لري...(مواعظ الحسن البصري)

## د ښایسته اخلاقو حقیقت!

ښېگڼه کول، خلکو ته له ضرر رسولو ځان بندول او تنده پراخه ساتل د ښایسته خویونو حقیقت دی.(من مواعظ و اقوال الصالحین، ۷ص)

## د گناهونو ډېروالی!

د الله عز وجل او بنده تر منځ د گناهونو لپاره یوه ځانگړې پوله ده، بنده چې هغې ته ورسیږي پر زړه یې ټاپه لگېږي او بیا د تل لپاره د نېکې چارې توفیق نه ورکول کېږي.(حسن بصري رحمه الله)

## له اوره وېره!

حسن بصري رحمه الله ته د هغه سړي یاد وشو، چې له زرو کلونو وروسته به د دوزخ له اوره راوځي، حسن بصري رحمه الله وویل: کاش ددې سړي په څېر زه هم واوسم.(الأدب الشرعیة لابن مفلح)

## علم او حلم!

- حلم د علم وزیر دی، نرمښت یې اصل او پلار دی او تواضع یې جامه ده.(من مواعظ و اقوال الصالحین،۷ص)
- په الله سوگند! له قرآن کریم پرته بله شتمني نه شته او له قرآن کریم وروسته هېڅ لوږه نشته.(من مواعظ و اقوال الصالحین،۸ص)

CamScanner

## رڼا په علمي ناستو کې ده!

د علمي مجلسونو او ناستو پرته ټوله دنیا تیاره ده.(من مواعظ السلف،۸ ص)

## علم ښکلا ده!

که علم شکل او بڼه لرلی؛ نو د علم شکل او بڼه به د لمر، سپوږمۍ، ستورو او اسمان څخه ډېره ښایسته وی.(من مواعظ و اقوال الصالحین، مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۲۹)

## د عالم سزا؟!

مالک بن دینار رحمه الله، حسن بصري رحمه الله ته وویل: عالم چې له دنیا سره مینه کوي سزا یې څه ده؟

حسن بصري رحمه الله وویل: د زړه مړینه، یاني زړه یې مړ کېږي، د دنیا د مینې له امله، دنیا د اخرت په عمل سره غواړي، همدې سره ترې د علم برکتونه کډه کوي او یوازې نقش او بڼه یې پرې پاتې کېږي.(البدایة و النهایة، ۹۲۶۸)

## د الله تعالی دیدن!

حسن بصري رحمه الله ته وویل شو: ایا په دنیا کې الله عز وجل لیدل کېدي شي؟

هغه وویل: نه؛ بیا ترې وپوښتل شو: ایا په اخرت کې لیدل کېدی شي؟

حسن بصري رحمه الله وویل: هو؛ ترې وپوښتل شو، توپیر یې په څه کې دی؟

حسن بصري رحمه الله وویل: څکه چې دنیا فنا کېدونکې ده او دنیا کې شته هر څه فنا کېدونکي دي او دا محال او ناشوني دي، چې

باقي پر فاني ولیدل شي او قدیم الأولی دې پر حدث (نوي) سره ولیدل شي او کله چې د قیامت ورځ شي؛ نو الله عز وجل به خپلو بنده گانو ته باقي پاتې کیدونکې سترګې ورکړي، چې دوی به پرې خپل رب عز وجل ته گوري، دا به پر دوی د الله عز وجل فضل وي او دوی لپاره به عزت وي.(من مواعظ و اقوال الصالحین،۱۰ ص)

## خشوع!

- خشوع تلپاتې وېرې ته وايي، چې له زړه سره لازمه او تړلې وي.(حسن بصري رحمه الله)
- حسن بن ابي الحسن رحمه الله وايي: مور ډېر خاندو او کېدی شي الله عز وجل زموږ پر ځینو عملونو خبر شوی وي او ویلي یې وي چې زه مو هېڅ شی نه قبلوم.(صفة الصفوة، من مواعظ و اقوال الصالحین،۱۱ص)

## د دوزخ له وېرې ژړا!

یو ځل حسن بصري رحمه الله وژړل، چا ترې وپوښتل: ولې ژړاې؟
حسن بصري رحمه الله وویل: له دې ځخه وېرېږم چې سبا ورځ به مې دوزخ ته ور واچوي، ځکه الله د چا پروا نه لري.

(من مواعظ و اقوال الصالحین،۱۱ص)

## د گناه اغېز!

یو ځوان حسن بصري رحمه الله ته وویل:
قیام اللیل (تهجد) مې ستومانه کوي، حسن بصري رحمه الله ورته وویل: گناهونو دې تړلی یې!

## د شر لر و بر!

حسن بصري رحمه الله ویلي: د شر اصول او فروع (لر و بر) شپږ دي!

اصول یې درې دي، حسد، حرص او د دنیا مینه.

فروع یې هم درې دي، د ریاست او مشرۍ مینه د ثنا او ستاینې مینه او د فخر (غرور) مینه.

(العقد الفرید، ۱۵۲/۲، من مواعظ و اقوال الصالحین،۱۲ص)

## محاسبه!

وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ۝٢ .(القیامة)

**ژباړه:** او نه، زه قسم خورم په ملامتوونکي نفس باندې.

حسن بصري رحمه الله د الله عز وجل په دې قول کې ویلي: مؤمن تل لپاره ځان ملامتوي، وایي: ددې خبرې اراده مې ولې وکړه؟ ددې خوړو اراده مې ولې وکړه؟ ددې مجلس اراده مې ولې وکړه؟

او فاجر (بدکاره) قدم په قدم په گناهونو کې روان وي او ځان نه ملامتوي.(من مواعظ و اقوال الصالحین،۱۳ص)

## د درېوو کسانو غیبت روا دی!

فاسق چې په ښکاره ډول د فسق او گناه چارې تر سره کوي، ظالم بادشاه او بدعتي، چې د بدعت چارې نه پرېږدي.

(من مواعظ و اقوال الصالحین،۱۳ص، العقد الفرید، ۱٦۱/۲)

## اوږد امید!

څومره چې د بنده امید اوږدیږي، په هماغه کچه یې عمل ناکاره کېږي.(حسن بصري رحمه الله)

## د سوالګر عزت!

په الله قسم! داسې خلک مې ډېر لیدلي و، چې هرو مرو به یې سوالګر ته څه نا څه ورکړه کوله، له دوی نه به چې کوم سړی له کوره واته، خپل اهل او کورنۍ ته به یې ویل: چې سوالګر به تش لاس مه رخصتوئ.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۴ ص)

## ستره دعا!

حسن بصري رحمه الله به دا دعا ډېره تکراروله:

اللَّهُمَّ لكَ الْحَمْدُ عَلى حلمِكَ بَعْدَ قُدرتِكَ وَلَكَ الْحَمْدُ عَلى عَفْوِكَ بَعْدَ قُدْرَتِكَ.(مواعظ واقوال الحسن البصري، ۵ص)

## د ناروغۍ ګټه!

حسن بصري رحمه الله د یو ناروغ پوښتنې ته ورغی، ګوري چې الله تعالی هغه ته شفاء ورکړې وه، حسن بصري رحمه الله ورته وویل: ای سړیه! الله ته یاد کړی یې، ته یې هم یاد کړه.

بیا یې وویل: ناروغي د عزتمن ملائک د لوري یو ګوذار دی.

## مؤمن داسې وي!

مؤمن په دنیا کې د مسافر په څېر دی، له خوارۍ او ذلت نه یې فریاد نه کوي او له عزت سره یې مینه نه لري، خلک په یو حال وي او دا پر بل حال وي، دا فضیلتونه هغه چاته مخه کوي، چې الله عز وجل چاته مخه کړې وي.(مواعظ واقوال الحسن البصري، ۵ص)

## مفلس د دوزخ په لور!

- د قیامت په ورځ به ځینې خلک د غرونو په کچه، له نېکیانو سره راشي دوی چې پر چا ظلم او تېری کړی وي، د هغوی لپاره به ترې د ظلمونو په بدل کې نېکیانې اخیستل کېږي، تر دې چې له نېکیانو به خلاص او مفلس به پاتې شي، بیا به دا مفلس د دوزخ اور ته واچولی شي.(الزهد لأحمد رحمه الله)
- ناروغ انسان، له ناروغۍ وروسته د کره او غښتلي آس په څېر غښتلی شي او یا د ډېر خوېدونکي او خوړونکي لېوني خره په څېر شي.(البداية والنهاية، ٩/٢٦٨)

## سړي پر درې ډوله دي!

یو سړی د غذاء (خوړو) په څېر دی، چې تل ورته اړتیا ده او خلاصی ترې نه شته.

دویم د دواء (درملو) په څېر دی، چې کله، نا کله ورته اړتیا پیداکېږي.

درېیم د ناروغۍ په څېر دی، چې هېڅکله ورته اړتیا نه پیداکېږي.(العقد الفريد، ٢/١٣١، مواعظ واقوال الحسن البصري، ١٦ص)

حسن بصري رحمه الله ویلي:

د یو مسلمان ورور د اړتیا پوره کول راته د یو کال (نفلي) عبادت نه ډېر غوره دي.(العقد الفريد، ٢/١٥٩)

CamScanner

## ژور خپګان!

➢ څوک چې د مرګ په راتګ، د قیامت پر وعدې او د الله تعالی په مخ کې پر درېدلو ایمان لري، حقه او لایقه خبره ده، چې اوږد او ژور خپګان ولري.(حلية الأولياء، ۱۳۲/۲)

➢ ډېره خندا زړه وژني.(حلية الأولياء، ۱۵۲/۲)

## وراره، د الله عزت کوه!

یو کس حسن بصري رحمه الله ته وویل: د سفر اراده لرم، څه (مانیزه) توښه راکړه! حسن بصري رحمه الله ورته وویل: وراره، چېرې چې یې د الله عز وجل د حکم عزت کوه، الله عز وجل به ستا عزت کوي.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۷ ص)

## د مخ دیدن یې عبادت دی!

➢ حسن بصري رحمه الله نه چا وپوښتل: له مور و پلار سره ښېګڼه او نافرماني یې څه توپیر لري؟

حسن بصري رحمه الله وویل: نېکي د مال، ورکړه او پرې مهرباني کول دي او نافرماني دا ده، چې مور و پلار ته ورکړه نه کوي دواړه پرېږدي او بې برخې یې کړي؛ بیا یې وویل: ته نه پوهېږې چې د مور و پلار مخونو ته کتل عبادت دی.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۷ ص)

➢ ایمان، یوازې پر ځان سینګارولو او هیلو ساتلو لاس ته نه راځي، بلکې ایمان هغه دی چې په زړه کې ځای ونیسي او په عمل یې تصدیق وشي.(حسن بصري، مواعظ و اقوال الصالحين، ۱۷ ص)

## نا کاره ناروغي!

د نفس خواهش، هغه نا کاره ناروغي ده، چې له زړه سره جوړه شوې ده، یانې ولکه یې پرې کړې ده.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۸ ص)

## غبرګې سورلۍ!

- هیله او وېره د مؤمن سورلۍ دي.(حسن بصري رحمه الله)
- ځان ساتنه او توکل غوره علم دی.(حسن بصري رحمه الله)

## عزتمن پرهېز!

- تل به پر خلکو عزتمن یې او خلک به ستا عزت کوي، څو چې د دوی له شتو مالونو څخه څه تر لاسه نه کړې!

کله دې چې دا کار وکړ، بیا به دوی تا سپک ګڼي، خبرې به دې نه خوښوي او کینه به درسره لري.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۸ ص)

- بې شکه زړونه مري او ژوندي کېږي، چې مړه، شو د فرائضو ادا کولو ته یې اړ کړئ او چې ژوندي شو پر نفلي عبادتونو ادب ورکړئ.

(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۸ ص)

## له علم سره اورنۍ مینه!

د علم د یو باب زده کړه راته، له دنیا او هغه څه نه ډېره غوره ده، چې په دنیا کې دي. (مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۹ ص)

## مسلمان دومره ډېر خوراک کوي؟!

عقبة الرابسي وایي: یوه ورځ په داسې حال کې د حسن بصري رحمه الله څنګ ته ورغلم چې له غوښې سره یې ډوډۍ خوړه، ویې ویل: راشئ د احرارو خواړه وخورئ، ما ورته وویل: دومره ډېر خوراک مې کړی چې د نورو خوړو طاقت نه لرم!

حسن بصري رحمه الله وویل: سبحان الله!؟ مسلمان دومره ډېر خوري، چې بیا د نورو خوړو طاقت نه لري؟!.

(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۱۹ ص)

## د اخرت میدان!

که چا د دنیا د میدان ګټلو هڅه کوله، ته هم سیالي ته وړاندې شه او د اخرت د میدان ګټلو هڅه وکړه!.(حسن بصري رحمه الله)

## توبة النصوح!

له حسن بصري رحمه الله نه د توبة النصوح په اړه وپوښتل شو، چې دا څه ډول توبه ده؟

هغه وویل: زړه سره پښېمانه کېدل، پر ژبه استغفار، د بدن پر غړو د ګناهونو پرېښودل او پیاوړې اراده کول چې بیا به ګناه ته نه ورګرځي.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۲۱ ص)

## دنیا د اخرت بازار دی!

فهم د پوهې لوښی دی، علم د عمل دلیل دی عمل د خیر سر لاری دی، خواهش د ګناهونو سورلۍ ده، مال د کبرجنو ناروغي ده، دنیا د اخرت بازار دی، هلاکت دی او پوره هلاکت دی هغه چاته، چې د الله تعالی پر نعمتونو ځان د الله عز وجل په وړاندې ګناهونو ته پیاوړی کوي.(مواعظ الصالحین والصالحات، ۲۲)

## غوره ګاونډيتوب!

ښه ګاونډيتوب، یوازې له ګاونډي نه د ضرر بندول نه دي، بلکې ګاونډيتوب، د ګاونډي د ضرر برداشت کول دي.

(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۲۲ ص)

## جواهرات!

علم غوره میراث دی، او ادب ډېر ښایسته ملګری دی تقوا غوره توښه ده، عبادت ډېره ګټوره پانګه ده، عقل غوره استازی دی.
ښایسته اخلاق غوره ملګری دی، حلم غوره وزیر دی، قناعت ډېره غوره شتمني ده، توفیق غوره مرستیال دی او د مرګ یاد، ستر واعظ دی.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۲۲ ص)

## دین، بدن او ژبه!

الله عز وجل دې توفیق درکړي، علم زده کړئ، علم د دینونو پېژندنې لپاره دی، طب د بدنونو لپاره دی او د نحوې علم د ژبې سمولو لپاره دی.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۲۲ ص)

## ښکلی یاد!

- د مرګ ډېر یاد سره د بنده عمل ښایسته کېږي او د هیلې اوږدېدا سره یې عمل ناکاره او بدرنګه کېږي.(مواعظ و اقوال الحسن البصري،۲۳ ص)
- پر عملي چارو دې خلکو ته نصیحت وکړه، (یوازې) د ژبې پر وینا نصیحت مه کوه.(الزهد لأحمد رحمه الله)
- حسن بصري رحمه الله د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث هم نقل کړی:

«رَحِمَ اللَّهُ عَبْدًا قَالَ فَغَنِمَ أَوْ سَكَتَ فَسَلِمَ».(الزهد لأحمد رحمه الله)

**ژباړه:** الله دې پر هغه بنده رحم وکړي، چې خبرې وکړي؛ نو ګټورې یې وکړي او که چوپ شي نو بچ پاتې شي.

## دروغ د هر شر بنسټ دی!

حسن بصري رحمه الله ویلي: دروغ د منافقت را ټولونکې چاره ده.(الزهد لأحمد رحمه الله، ۲۲۴ ص)

## ځیرک اوسه!

تل به نیکمرغه یې چې د عملونو فاسدونکي پېژني!.

(الزهد لأحمد رحمه الله، ۲۲۶ ص)

## معرفت زرینه کلا ده!

چا چې خپل رب تبارك وتعالی پېژندلی وي، مینه ورسره لري او څوک چې د دنیا پر حقیقت پوه شوی وي، پرهېز ترې کوي...(الزهد لأحمد، ۲۲۶ ص)

## تواضع!

د حسن بصري رحمه الله په مجلس کې د تواضع یاد وشو، خلکو د تواضع په اړه خپل ـ خپل نظرونه وړاندې کول او حسن بصري رحمه الله غلی ناست و، ډېرې خبرې وشوې د ناستې ګډونوالو په ټینګار سره له ده نه غوښتل چې تواضع ور وپېژني، ده ته یې وویل: ابو سعیده! تاسې راته ووایئ، چې تواضع څه ته وایي؟

حسن بصري رحمه الله وویل: تواضع دې ته وایي، چې سړی له کوره ووځي او چې له هر مسلمان سره مخامخ کېږي، پر هغه دا ګومان کوي، چې له ده څخه غوره دی.(الزهد لأحمد)

## د عمل وروستی وخت!

ځینې خلک پر عمل همېشه والی نه کوي، په الله قسم هغه کس مؤمن نه دی، چې میاشت یا دوه میاشتې، کال یا دوه کاله نېک عمل کوي او بیا یې پرېږدي، داسې نه ده، په الله قسم! الله عز وجل یوازې مرګ، د مؤمن د عمل لپاره نېټه ټاکلې.(الزهد لأحمد، ۲۲۱ ص)

## د مؤمنانو خوی!

سعید الحریري، حسن بصري رحمه الله ته وویل: ابو سعیده! یو سړی ګناه کوي بیا توبه وباسي، بیا ګناه کوي، بیا توبه وباسي بیا ګناه کوي، بیا توبه وباسي، بیا ګناه کوي، بیا توبه وباسي، تر کومې به داسې کوي؟

حسن بصري رحمه الله وویل: ماته چې څومره معلومه ده، دا د مؤمنانو له خویونو څخه یو خوی دی.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۲۵ ص)

## دا غوره دی!

بنیادمه! ته قول او عمل، پټ او ښکاره لرې، عمل دې له قول نه غوره دی او پټ دې له ښکاره نه غوره دی.(الزهد لأحمد، ۲۲۶ ص)

## اسلام د منځلاریتوب دین دی!

د الله عز وجل دین له زیاتوالي (افراط) نه ښکته او د کمي (تفریط) نه پورته (منځلاری) جوړ او ټاکل شوی دی.(الزهد لأحمد، ۲۲۹)

## په برخه دې خوښمن اوسه!

- څوک چې پر خپله برخه راضی شي، الله عز وجل یې پراختیا او برکت روزي کوي، یانې برخه یې غوړېږي، وده کوي او برکتي کېږي

CamScanner

او څوک چې پر خپله برخه قناعت ونه کړي او نا خوښه وي، نه يې برخه کې پراختيا او نه پکې برکت راځي.

(من مواعظ و اقوال الصالحين، ۳۱ ص)

➢ د حسن بصري رحمه الله په ناسته کې د دنيا ياد وشو، هغه وويل:

أحلام نوم او كظل زائل، ان اللبيب بمثلها لا يخدع.

**ژباړه:** د دنيا ژوند د خوب ليدل دي او يا د تلونکي سيوري بڼه لري، عقلمن انسان پرې نه دوکه کېږي.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۳۴)

## روح او بدن پرې ساتل کېږي؟!

دين، دې دين او عقيده ده، دا دې وينه او غوښه ده لحاظ يې ساته، که دين دې ساتلی و، بدن او د بدن وينه او غوښه دې ساتلې ده او که ددې پاملرنه نه کېده، پر الله عز وجل د دوزخ له اوره پناه وغواړه، د دوزخ اور، داسې اور دی چې هېڅکله نه مړ کېږي، د دوزخي بدن نه زړېږي او روح يې نه مړ کېږي.(حسن بصري، الزهد لأحمد، ۲۲۹ ص)

## څنګه کبر کوې؟!

حسن بصري رحمه الله وايي: بنيادمه! ته څنګه کبر کوې په داسې حال کې دوه ځلې د تشو بولو (متيازو) د لارې نه راوتلی يې؟!.(الزهد لأحمد، ۲۳۳ ص)

## درې ارمانونه!

له بنيادمه چې روح وځي او دنيا پرېږدي درې ارمانونه به کوي، لومړی: له خپل ټول جمع شوي مال نه يې ګټه تر لاسه نه کړه، دويم: خپلو هيلو ته ونه رسېده، درېيم: او له ځانه مخکې يې ښه توښه وانستوله. (مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۲۸ ص)

## دوه وېرې!

مؤمن سبا او بېگاه په سخته اندېښنه کې وي، ځکه دا د دوو وېرو په منځ کې قرار لري، د خپلې کړې گناه له امله غمجن وي، نه پوهېږي چې په اړه به يې الله ورسره څه کوي؟

او د پاتې عمر په اړه اندېښنه لري، چې څومره پېښې او کړاوونه به ورته رسېږي؟.(حلية الاولياء، ۱۳۲/۲)

## پر گناه پښېماني!

څوک چې پر خپلې گناه خپگان ښکاره کړي او د الله تعالی نه ښښنه هم ونه غواړي، ښښنه ورته کېږي.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۳۴ ص)

## د عقلمن ژبه چېرې ده؟

- حسن بن أبي الحسن رحمه الله به ويل:

د عقلمن انسان ژبه، د هغه د زړه شاته وي، که څه وينا يې مخې ته راشي غور پرې کوي، که ښه خبره وي کوي يې او که ښه خبره نه وي ځان ترې ساتي او نه يې کوي او د احمق (بې عقله) ژبه د زړه مخې ته وي، که څه خبره يې مخې ته راشي کوي يې که گټه پکې وي او که پکې نه وي.(العقد الفريد، ۲۴۰)

- له حسن بصري رحمه الله نه وپوښتل شو: ايا مؤمن کينه کوي؟

حسن بصري رحمه الله ورته وويل: د يعقوب عليه السلام زامن دې هير شو؟!.(مواعظ و اقوال الحسن البصري)

## عشق له وصال پرته!

درې څيزونه له عوض پرته د منځه ځي او ضايع کېږي، دين له عمل پرته، مال د لگښت پرته او عشق له وصال پرته.(مواعظ و اقوال الحسن البصري،۳۷ ص)

## راز دې ساته!

**کوم راز چې له دښمن څخه پټوې، خپل دوست ته يې هم مه ښکاره کوه!**.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۳۷ ص)

## د مشورې برکت!

**له حسن بصري رحمه الله نه روايت دی وايي: الله عز وجل، نبي صلی الله عليه وسلم ته، له صحابه و سره ددې لپاره د مشورې کولو حکم نه و کړی، ګوا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغوی نظر او مشورې ته اړتيا لرله، بلکې الله تعالی دا خبره خوښوله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مشورې پر برکت پوه کړي.**

(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۳۸ ص)

## بدله يې له الله سره ده!

**حسن بصري رحمه الله وايي:**

**د قيامت په ورځ به يو اعلان کوونکي داسې اعلان وکړي: پر الله عز وجل چې د چا اجر او بدله وي هغه دې پاځيږي!**

**له اعلان سره به يوازې هغه کسان پاځيږي، چې دنيا کې به يې خلکو ته معافي کوله!**

**بيا يې دا ايت ولوسته:** فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ.(الشوری، ۴۰)

**ژباړه:** بيا څوك چې معافي وکړي او اصلاح وکړي د هغه اجر پر الله دی.

## غمجنه ورځ!؟

یوې ښځې د خپل پلار د جنازې پسې ژړل او ویل یې: پلاره! ستا د مړینې د ورځې په څېر غمجنه ورځ مې کله نه وه لیدلې!
حسن بصري رحمه الله ورته وویل: پلار دې هم ددې ورځې په څېر سخته ورځ کله نه وه لیدلې؟!.(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۳۸)

## د عقل بیه!

که عقل د خرڅلاو د څه سامان په څېر وی خلکو به یې بیه ډېره لوړه کړې وی، مګر ډېره عجیبه دا ده چې پر مال لږ غوندی شی (شراب) پېري، بیا یې څکي چې له امله یې عقل د منځه ځي.(حسن بصري رحمه الله)

## مرګ مې نه خوښیږي؟!

- یو کس حسن بصري رحمه الله ته وویل: مرګ مې نه خوښیږي، حسن بصري رحمه الله ورته وویل: لامل یې دا دی چې تا مال له ځان نه وروسته کړی دی، که مال دې له ځان نه مخکې کړ، بیا به خوشحالیږې، چې له خپل مال سره دې یو ځای شې.
(مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۴۲ ص)
- د قیامت په ورځ به له خلکو څخه ډېر فریاد او چغې هغه کس وهي، چې د ګمراهۍ بنسټ یې ایښی وې او خلکو د ده پیروي کړې وي، دغه راز بل به هغه سړی ډېرې چغې وهي چې د کفایت په اندازه مال ورکړی شوی وي او هغه د الله تعالی نعمتونه په ګناهونو کې کارولي وي.(مواعظ و اقوال الصالحین، ۴۰ ص)

## د عزتمنو جوړه!

چا چې د خپل مال ساتنه وکړه، په تحقیق سره هغه د دوو عزتمنو څیزونو دین او عزت ساتنه وکړه.(مواعظ و اقوال الصالحین، ۴۰)

## د صبر خزانه!

صبر د نېکۍ له خزانو څخه یوه خزانه ده، چې الله یې خپل عزتمن بنده ته ورکوي.(حسن بصري رحمه الله)

## د شپې او ورځې د جوړې خطر!

بنیادمه! د دوو سورلیو په منځ کې را ایسار یې، پام ساته چې تر پښو لاندې دې نه کړي، د شپې او ورځې جوړه خطر دی، څو چې اخرت ته نه یې تللی، بیا به پته لګي، یا به جنت ته ځې او یا به دوزخ ته ځې، (اوس ته ووایه) له تانه ستر خطر سره مخامخ بل څوک دی؟.(حلیة الاولیاء، ۱۵۲/۲)

## دا اسلام دی!

چې پټ او ښکاره پکې یو ډول وي، زړه دې الله تعالی ته وسپارې، هر مسلمان او د هر عهد (لوظ) خاوند دې له ضرره بچ او په سلامتیا کې وي.(حلیة الأولیاء، ۱۵۲/۲)

## د ښایسته عمل خاوند!

مؤمن هغه څوک دی، چې یقین لري، چې الله عز وجل څه ویلي دي همداسې دي، مؤمن له ټولو خلکو نه د عمل په لحاظ ډېر ښه وي او له الله نه ډېر وېرېدونکي وي، که د غره په کچه مال، د الله په لار کې خیرات کړي، د امن احساس نه کوي څو یې چې پر سترګو جنت نه وي لیدلی، څومره یې چې نېکي او عبادت زیاتیږي، په

همغه کچه یې د الله عز وجل نه وېره هم زیاتیږي او وایي چې ژغورلی نه شم.

منافق وایي: د خلکو ډلې ډېرې دي، ماته به هم ښښنه وغواړې، زما څه کار دی، زه دومره ګناهګار نه یم، عمل هېروي او پر الله عز وجل هیلي تړي.(حلیة الأولیاء، ۱۵۳/۲)

## د مخ ښکلا!

- له حسن بصري رحمه الله نه وپوښتل شو دا څه خبره ده، چې تهجد کوونکي په خلکو کې د ښایسته مخونو خاوندان وي؟
  هغه وویل: لامل یې دا دی، چې دوی د رحمن ذات سره په خلوت کې مناجات کوي، نو هغه یې پر خپل نُور مخونه پوښي.
  (مختصر منهاج القاصدین، ٦٧ص، مواعظ و اقوال الحسن البصري، ۵۳ ص)
- تر هغه وخته د ایمان حقیقت ته نه شې رسېدلی، څو چې خلک تا ستا پر عیبونو عیبجن نه کړي او ته د خپل عیب د اصلاح او لرې کېدا لپاره لاس پکار نه شې، خپل عیب پخپله اصلاح کړې، کله چې دا چاره تر سره کړې دا به ستا پر خوښه، ستا نفسي عبادت وي او دا ډول خلک الله تعالی ته ډېر ګران دي.(البدایة و النهایة، ۲۵۴/۹)

## محاسبه!

- انسان تر هغه مهاله په خیر دی، چې د خپل ځان له پلوه نصیحت کوونکی (واعظ) لري او له ځان سره حساب کول یې له ارزښتمنو چارو څخه وي.(البدایة و النهایة، ۲۵٦/۹)
- مؤمن د الله عز وجل د رضا لپاره له خپل ځان سره محاسبې ته ژمن وي، د قیامت په ورځ به پر هغو خلکو حساب اسانه وي، چا چې په دنیا کې له ځان سره حساب کړی وي او پر هغو به حساب ډېر

سخت وي، چا چې دنیا کې له ځان سره د حساب کولو پرته ژوند کړی وي...(البداية و النهاية، ٢٥٦/٩)

- د دې امت غوره او د سر خلک مې لیدلي، ډېره موده له هغوی سره وم، په الله قسم دوی له حلالو څیزونو څخه دومره ډېر پرهېز کاوه، څومره چې تاسې له حرامو څخه نه کوئ، هغوی د خپل رب پر کتاب عمل کاوه او هم یې د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي کوله؟.
- دغه راز مېرمن ته به یې د ځانګړیو خوړو د تیارولو حکم نه کاوه، د دوی کوم کس به چې خپل کور ته ننوت،که د خوراک څه څیز به یې مخې ته کېښودل شو، خوړل به یې او که څه به نه و، غلی به کېناسته او هېڅ به یې څه نه ویل.(البداية و النهاية، ٢٥٦/٩)
- څلور خویونه چې په چاکې وي، الله عز وجل پرې خپله مینه را ښکته کوي او خپل رحمت پرې وروي.

څوک چې له مور و پلار سره نرمي او ښېګڼه کوي، د مریي سره نرمي او ښېګڼه کوي، د یتیم کفالت او روزنه کوي او د کمزوري سره مرسته کوي.(البداية و النهاية، ٢٥٧/٩)

خلکو ته د هغوی د عملونو پر بنسټ باور او اعتبار ورکړئ، ویناوې یې پرېږدئ، الله عز وجل هېڅ وینا له عملي دلیل پرته نه ده پرېښې، ځکه عملي دلیل سره د وینا دروغ او رښتیا څرګندیږي، که ښه خبره دې ترې واورېده، وینا وال ته یې هر کلی دی.(البداية و النهاية، ٩، ٢٥٥)

## د عمل امېل؟!

دنیا لاړه او عملونه مو، د امېلونو په څېر په غاړو کې پاتې شو.(البداية و النهاية، ۲۵۷/۹)

## روژه کې خولې ته اوبه اچول!

- څه باک نه لري، که روژه تي په ګرمۍ کې د یخوالي په نیت خولې ته اوبه واچوي یا بدن پر اوبو یخ کړي.(الجامع بين الصحيحين، ۲۳۹/۲)
- یو ځل ابن سیرین رحمه الله وویل:

روژه تي تازه مسواک کارولی شي، چا ورته وویل: هغه خو خوند لري، ابن سیرین رحمه الله ورته وویل: اوبه هم خوند لري او مضمضه پرې کوي، یانې خولې ته یې اچوې.(الجامع بين الصحيحين، ۲۳۹/۲)

- د ابن سیرین رحمه الله خبره مې ددې له امله د حسن بصري رحمه الله له خبرې سره جوړه کړه، چې د هغه له خبرې سره یې تړاو لره، تایید یې پکې و او بله خبره دا ده، چې دواړه د یو وخت ملګري و.(فاروقي)
- که مچ د روژه تي حلق (کومي) ته ننوځي، روژه تي باندې څه نشته، یانې روژې ته یې زیان نه رسیږي.(الجامع بين الصحيحين، ۲۳۹/۲)
- ای انسانه! د حق او ثواب څه کار د ریاء لپاره مه کوه او هم یې د حیاء له امله مه پرېږده.(مواعظ الحسن البصري، ۴۲ ص)
- دا امت تر هغه وخته په خیر دی، د الله عز وجل په پرده کې دی او د سیوري تر وزر لاندې دی، څو یې چې غوره خلک د ناکاره خلکو په وړاندې نرمي غوره نه کړي(یانې چې نېکان یې د بدانو په وړاندې نرمي او غوړه مالي پیل کړي) ابرار (ښه خلک) یې د بد کارانو په وړاندې تعظیم او درناوی ونه کړي او قاریان یې د چارواکو لور ته

کاره نه شي، دا چارې چې کله پیل کړي د الله عز وجل لاس ترې پورته شي، زور واکي پرې مسلط او وګومارل شي دوی ته ناکاره عذاب ورکوي او د اخرت عذاب خو لا زيات سخت او تلپاتې کېدونکی دی او په زړونو کې يې وېره او رعب واچوي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ٦٨ ص)

- د هغه خلکو په څېر مه کېږه، چې د عالمانو علم او حکیمانو نادرې غوره خبرې را غونډوي او په عمل کې د کم عقلانو پر لاره روان وي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٦٨ ص)

## ذکر په دوه ډوله دی!

- سیدنا امام حسن بصري رحمه الله وايي: ذکر په دوه ډوله دی، ستا او ستا د رب عز وجل په منځ کې، د رب ذکر؛ دا ذکر ډېره ښایسته او ستره بدله لري او له دې نه هم ډېره غوره ذکر دا دی چې د حرامو په وړاندې الله عز وجل در یاد شي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٦٩ ص)
- یو سړي حسن بصري رحمه الله ته وویل: دلته ځینې کسان دي غواړي، چې د دوی کوم کس ته لور په نکاح ورکړم، نو د کوم صفت خاوند ته يې ورکړم؟

## د سرو زرو کرښه!

حسن بن أبي الحسن رحمه الله ورته وویل: دوی کې يې هغه کس ته ورکړه، چې د الله عز وجل څخه وېرېږي، که يې خوښېده عزت به يې کوي او که يې نه خوښېده، ظلم به پرې نه کوي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ٧٠ ص)

## د ژبې ساتنه!

څوک چې ډېرې خبرې کوي، ډېر دروغ وايي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۷۱ ص)

## راز!

دا هم خيانت دى، چې د خپل مسلمان ورور راز خلکو ته بيانوې.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۷۱ ص)

## درې ډوله ياد؟!

امام حسن بصري رحمه الله ويلي: د نورو خلکو ياد درې بڼې لري، چې د غيبت، بهتان او إفك پر نومونو يادېږي او دا ټولې بڼې د الله عز وجل کتاب کې يادې شوې دي.

غيبت: دې ته وايي چې د مسلمان په اړه هغه خبرې کوې، کومې چې په هغه کې وي.

بهتان: دې ته وايي چې پکې نه وي او ته يې ورپسې وايې، او (إفك) دې ته وايي چې په اړه يې هره خبره تاته رسېدلې وي، ته يې پسې وايي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۷۲)

## زرينه کرښه!

مَنْ نَمَّ لَكَ نَمَّ عَلَيْكَ.(إحياء علوم الدين، ۱۵٦/۳)

ژباړه: څوک چې د بل خبره تاته راوړي، ستا خبره هم بل ته وړي.

يو چا حسن بصري رحمه الله ته وويل: ځينې خلک وايي: مورږ د الله نه هيله لرو او عمل ضايع کوي!.

حسن بصري رحمه الله وويل:

دا د دوی تشې هیلې دي، چې کوي يې، څوک چې د څه شي هيله لري، د هغه طلب کوي او له څه شي، چې وېرېږي له هغه نه تېښته کوي.(مواعظ الامام الحسن البصري)

## تفکر او عبادت!

يو ساعت فکر کول، د ټولې شپې له عبادت نه غوره دی!

د چا په خبرو کې چې حکمت نه وي بې ګټې دي، د چا په چوپتيا کې چې فکر کول نه وي، سهوه ده، د چا په نظر کې چې عبرت نه وي هسې لوبه ده.(مواعظ الامام الحسن البصري)

## هيله او سهوه!

سهوه او هيله، بنيادم لپاره دوه ستر نعمتونه دي، که دا دواړه نه وی مسلمانان به پر لارو نه وی تللی.(مواعظ الامام الحسن البصري)

## جنت راحت دی!

الله عز وجل يوازې جنت د مؤمن لپاره راحت ګرځولی، یانې له جنت پرته بل دمه ځای نشته.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٧٦ ص)

## په الله قسم!

- مور د فناء لپاره نه يو پيدا شوي؛ بلکې له يو کور نه بل کور ته لېږدول کېږو.(مواعظ الامام الحسن البصري، ٧٦ ص)
- کوچنيتوب کې د علم طلب، کاڼي کې د ليکلو په څېر دي او بوډا توب کې د علم طلب، پر اوبو د ليکلو په څېر دي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ٧٧ ص)

## مینه له عمل پرته ګټه نه لري!؟

- په دې خبره ځان مه تېر باسه چې وايي، (انسان به د قیامت په ورځ له هغه چاسره وي، چې له چا سره يې مینه کړې وي) له عمل پرته به هېڅکله له نېکانو سره یو ځای نه شې، یهودو او نصاراوو له خپلو پیغمبرانو سره مینه لرله؛ مګر سوګند پر الله! نه به په حشر کې له هغوی سره ملګري وي او نه به د هغوی په ډله کې ننوځي، بلکې دوی د دوزخ خاشاک دي او دوزخ ته به ورننوځي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۸۵ ص)

- څوک چې له الله عز وجل څخه وېرېږي، الله تعالی ترې هر څیز وېروي او څوک چې له خلکو څخه وېرېږي، الله تعالی يې له هر څیز نه وېروي، یانې له هر څیز نه په زړه کې د وېرې احساس کوي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۹۱)

### دوستانه!

تقدیر نیم کسب دی، دوستانه نیم عقل دی او په ښه طریقه د حاجت طلب کول نیم علم دی.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۹۵ ص)

### د ښکلا پانګه!

یو سړي امام حسن بصري رحمه الله ته وویل: ابو سعیده!
کوم ډول پوښاک دې ډېر خوښیږي؟
امام حسن بصري رحمه الله وویل: کوم چې ډېر سخت، خشن او د خلکو په نزد بېکاره او بې ارزښته وي!
سړي وویل: ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت شوی نه دي، چې: إِنَّ اللهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ.(صحیح مسلم)

ژباړه: بې شکه الله ښکلی دی، ښکلا خوښوي.

امام حسن بصري رحمه الله وويل: وراره، ته بل لور ته لاړې!

که ښکلا د الله په نزد، په پوښاک کې وي، بد کاران به د الله په نزد له نېکانو څخه ډېر مخور وی، بلکې حقیقي ښکلا، د عبادتونو په کولو سره الله ته نږدې کېدل دي، له گناهونو څخه ځان ساتل دي، ښه او عزتمن اخلاق او خویونه لرل دي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په صحیح حدیث سره دا هم روایت شوي:

بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ.(مؤطأ لإمام مالك)

ژباړه: زه ددې لپاره را ستول شوي یم چې نېک خویونه او اخلاق بشپړ کړم.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۹٦ ص)

## ظالم لپاره دعا!

څوک چې ظالم لپاره په ځمکه کې د پاتې کېدلو دعا غواړي، په یقیني ډول هغه دا خوښوي، چې په ځمکه د الله نافرماني وشي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۰۱ ص)

## له خلکو بې پروا اوسه!

هغه چاته نه ورځم چې خپله شتمني را څخه پټوي، خپل فقر او بې وزلي را ښکاره کوي، دروازه مې پر مخ تړي او څه چې ورسره دي، هغه رانه منع کوي، زه هغه ذات بلم چې دروازه مې پر مخ خلاصوي، خپله غنا او شتمني راته ښکاره کوي او د خپلو شتو او لورېینو لور ته مې وربولي. (مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۰۱ ص)

## موعظه دلیل دی!

- یو ځل امام حسن بصري رحمه الله یو حدیث بیان کړ، یو کس ترې وپوښتل: ابو سعیده! دا حدیث مو له چا نه روایت کړی، یانې د سند راویان یې څوک دي؟ بصري امام وویل: ته پرې څه کوې، چې له چانه روایت شوی؟ تاته نصیحت ورسېد او حجت (دلیل) درباندې ثابت شو.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۱۰ ص)
- د خیر املاء او خبرې له چوپتیا نه غوره دي او چوپتیا د شر له ملاء او خبرو نه غوره ده.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۱۴ ص)

## په باطل رضا کېدل!

یو سړي اوښه ووژله؛ مګر الله عز وجل ټول قوم ته عذاب ورکړ، ځکه ټول قوم له ده سره د اوښې په وژلو رضا او خوښي ښودلې وه.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۱۴)

## درېیو نه ځان ساته!

له درېیوو څخه وېرېږه او ځان ترې ساته چې شیطان دې پر نفس برلاسی نه شي.

۱: له (پردی) ښځې سره مه یوازې کېږه، که څه هم چې ته وایې، چې قرآن ورښایم!.

۲: د بادشاه دربار ته مه ورننوځه، که څه هم چې ته وایې، د نېکی حکم ورته کوم او له بدی نه یې منع کوم.

۳: له بدعتي سره مه کېنه، ځکه دی دې زړه ناروغوي او دین دې در باندې خرابوي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۱۵ ص)

**مؤمن داسې وي:**

مؤمن حلیم دی، جاهلانه چال چلند نه کوي، که څه هم چې له ده سره يې څوک کوي، بیا امام حسن بصري رحمه الله دا ایت ولوست:

وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا.(الفرقان،٦٣)

**ژباړه:** که جاهلان يې مخې ته راشي، ورته وايي: تاسې ته **سلام**.(مواعظ الامام الحسن البصري، ١٠١٦)

## تعارف!

له يو سړي سره ناسته کول او دا پوښتنه ترې نه کول، چې نوم او د پلار نوم مو څه شی دی؟ دا د کم عقلانو ناسته ده.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ١٢٠ ص)

## د امام حسن بصري رحمه الله ژړا!

حمزة الأعمی وايي: زه به د امام حسن بصري رحمه الله کور ته چې ورتلم هغه به ژړل او کله به يې چې خنګ ته ورغلم، لمونځ به يې کاوه، ژړل به يې او د ژړا څګېروی به يې اورېدل کېده، يوه ورځ مې ورته وويل: تاسې ډېر ژاړئ؟! راته يې وويل: زويه، مؤمن چې نه ژاړي نو څه به کوي؟ زويه، ژړا د رحمت بلونکې ده، که وس دې کېږي او ټول عمر ژړلی شې؛ نو دا کار وکړه! کېدی شي، الله تعالی دربانديې ورحمیږي، بیا نو ته له دوزخ څخه ژغورل شوی یې.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ١٢٣ ص)

## حملة القرآن!

- امام حسن بصري رحمه الله ويلي: حملة القرآن درې کسان دي، يو هغه کس دی چې له قرآن کريم نه يې پانګه جوړه کړې، له يو ښار نه يې بل ښار ته لېږدوي او له خلکو نه پرې هغه څه تر لاسه کوي، څه چې له خلکو سره دي.

دويم هغه کس دی چې د قرآن کريم توري يې ياد کړي او د هغه حدود يې ضايع کړي دي او ددې په وسيله له چارواکو نه تاوېږي را تاوېږي او د خپل ښار او سيمې پر خلکو ځان لوی ګڼي، قرآن والو کې دا ډول خلک ډېر دي، الله عز وجل دې يې نه ډېر وي.

درېيم هغه کس دی چې قرآن کريم يې لوستی او د قرآن دوا (درمل) يې د خپل زړه پر ناروغۍ پورې کړي، شپې يې پرې شوګير کړې او سترګو يې پرې اوښکې تويې کړې وي، د خشوع جامه يې پر غاړه او له څېرې نه يې غم ځرګندېږي.

په الله قسم! دا ډول کسان په حملة القرآن کې له کبريت احمر نه هم ډېر کم دي، الله عز وجل، همدی د رحمت په ډېر ورښت خړوبوي، مرسته پرې رالېږي او له افتونو يې ساتي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ١٢٨ ص)

- مخکينوو خلکو قرآن د رب د لورې د پيغام په ډول پېژندل، د شپې به يې پکې غور او تدبر کاوه او د ورځې به يې د رب د پيغامونو عمل او تطبيق کاوه.(مواعظ الامام الحسن البصري، ١٢٨ ص)

## د عقلمن ژبه!

د عقلمن ژبه د زړه شاته وي د خبرو اراده چې کله وکړي، لومړی فکر کوي، که خبرو کې ورته ګټه ښکاره شي خبرې کوي او که تاوان پکې وګوري، بیا چوپ کېږي او د ناپوه زړه د ژبې شاته وي، د خبرو هوډ چې وکړي، سملاسي خبرې کوي که ګټه یې پکې وي او که تاوان؟.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۳۳ ص)

## عقل!

ډېر ځلې یو سړی عالم وي او عابد نه وي او داسې هم کېږي، چې یو سړی عابد وي او عقلمن نه وي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۳۳ ص)

## عملنامه دې ولوله!

- د ادم زویه! د الله عز وجل دا قول یاد کړه:

وَ كُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓىِٕرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ؕ وَ نُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰهُ مَنْشُوْرًا ⑬ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ⑭ .(الإسراء)

**ژباړه:** د هر انسان عملنامه موږ د هغه په خپله غاړه کې ځوړند کړې دی او د قیامت په ورځ به موږ یوه لیکنه هغه ته راوباسو چې هغه به یې د یو پرانستی کتاب غوندې مومي* ولوله خپله عملنامه نن د خپلې محاسبې لپاره ته پخپله کافي یې.

په الله سوګند! الله عز وجل درسره ځومره عدل کړی، چې پخپله یې پر خپل ځان حسیب ګرځولی یې... (مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۳۴ ص)

- دین د مؤمن اصل شتمني ده، چېرې چې وي دا هم ورسره وي، نه یې په سفر کې له ځان نه وروسته پرېږدي او نه یې امانت ساتلو کې پر خلکو باور لري.(مواعظ الامام الحسن البصري)

➢ بې علمه عمل کوونکی داسې دی لکه بې لارې چې روان وي له اصلاح نه يې فساد او ورانی ډېر وي...(مواعظ الامام الحسن البصري)

## وېره او هيله!

پکار دا ده، چې وېره دې پر هيله برلاسې وي، هيله چې کله پر وېره زور وره او برلاسې شي زړه خرابوي.

## څومره نا اشنا چاره؟!

دغه راز سيد التابعين امام حسن بصري رحمه الله ويلي:

د هغه چا پر حال تعجب پکار دی، چې له عذاب نه وېرېږي او گناه نه ځان نه بندوي او د هغه چا پر حال تعجب پکار دی، چې د ثواب هيله لري او عمل نه کوي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۴۱ ص)

## بېړه وکړئ!

د مرگ له راتلو وړاندې پر نېکو چارو بېړه وکړئ، څکه کړې نېکې چارې ستاسې دي، نه هغه چې له تاسې وروسته پاتې دي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۴۱ ص)

➢ که څوک پياوړی وي، پياوړتيا دې د الله په عبادت کې وکاروي او که څوک کمزوری وي، د الله عز وجل له نافرمانۍ دې ځان بند کړي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۴۲ ص)

## ستاينه د غندنې په جامه کې؟!

که يو سړی په ښکاره ډول، خپله بدي بيانوي؛ نو په پټ ډول، دا د ده لپاره ستاينه ده.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۴۴ ص)

## پر عمر حرص!

ډېر داسې خلک مې لیدلي، چې پر عمر یې څومره ډېر حرص او بخل کاوه، هومره یې پر دینارونو او اشرفیو نه کاوه.

(کتاب الزهد لابن مبارک، ۴ ص)

## دعا په عمل سره پورته کېږي!

**امام حسن بصري رحمه الله ویلي:**

نېک عمل، سپېڅلې کلمې او خبرې د الله عز وجل لور ته پورته کوي کله چې خبرې پاکې او سپېڅلې وي او عمل بد او ناکاره وي، وینا عمل ته وړاندې کولی شي او عمل یې له وینا څخه ډېر لایق دی.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۴۷ ص)

## له ریا نه لرې اوسېږه!

یو سړي به ټول قرآن یاد کړی و او ګاونډي به یې ترې خبر نه و، یو سړي به په دین کې ډېره پوهه تر لاسه کړې وه او خلک به پرې خبر نه و، یو سړي به په جومات کې اوږد لمونځ پیل کړی و او د کور دننه مېلمانه به یې ترې خبر نه و، چې کوربه په جومات کې لمونځ کوي، ډېر داسې خلک مو هم موندلي چې د ځمکې پر مخ کوم نېک عمل به په پټه کېده، په ښکاره به یې هېڅ نه کاوه، په تحقیق سره مسلمانانو به په دعا کې ډېر کوښښ کاوه او غږ به یې چا نه اورېده؛ ځکه الله عز وجل وایي:

ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ۝٥٥ .(الأعراف)

**ژباړه:** خپل رب وبلئ په زارېو زارېو او په پټه پټه، دا یقیني ده، چې هغه له حده تېري کوونکي نه خوښوي.

دغه راز الله عز وجل وايي:

إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ۝٣ .(مريم)

**ژباړه: کله چې هغه خپل رب په پټه پټه وباله.**(الزهد لابن مبارک، ۴۵ ص)

## وصيت!

مسلمان هېڅکله په مړه ګېډه خوراک نه کوي او ليکلی وصيت يې تل تر بالخت لاندې وي.(الزهد لابن مبارک، ۹۲ ص)

## د سرو زرو کرښې!

- حميد الطويل وايي: حسن بصري رحمه الله د ثابت بناني رحمه الله څنګ ته ددې لپاره ورغی چې له ده سره د يو مسلمان د حاجت پوره کولو لپاره لاړ شي، ثابت ورته وويل: زه په اعتکاف کې يم، ياني له تاسره نشم تللی!

حسن بصري رحمه الله ورته وويل: د مسلمان ورور د حاجت پوره کول راته د يو کال له اعتکاف نه غوره دي.(الزهد لابن مبارک، ۵۸ ص)

- او ابن مبارک رحمه الله له ابو جعفر څخه نقل کړي، چې يو سړی حسين بن علي رضي الله عنهما ته راغی او د خپلې اړتيا پوره کولو لپاره يې ترې مرسته وغوښته، حسين بن علي رضي الله عنهما په اعتکاف کې و، دې کس ته يې وويل: که زما اعتکاف نه وی درسره به تللی وم او ستا اړتيا به مې پوره کړې وه؛ اړمن کس له ده څخه لاړ او حسن بن علي رضي الله عنهما ته ورغی، هغه ته يې خپل حاجت او اړتيا ياده کړه، حسن بن علي رضي الله عنهما ورسره روان شو، (لاره کې يې) حسن بن علي رضي الله عنهما ته وويل: زما دا خوښه نه وه، چې تا پخپل کار کې ستړی کړم؛ مګر زه لومړی حسين بن علي

## منځلارې اوسه!

**منځلاري اوسئ، په مينه کې هم او په کينه کې هم؛ ځينو خلکو، د ځينو نورو په مينه کې افراط وکړ، نو هلاک شول او ځينو بيا د ځينو نورو سره په کينه کې افراط وکړ، نو هلاک شول، مه په مينه کې افراط کوه او مه په کينه کې افراط کوه!.**(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱٦۱ ص)

## پاک خواړه!

**دوه ډوله خواړه پاک دي، لومړی؛ چې يو انسان د لاس کار کوي او د لاس له ګټې خواړه لاسته راوړي.**

**دويم، يو انسان پر خپلې شا بارونه لېږدوي را لېږدوي او له ګټې يې خواړه لاسته راوړي.**(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱٦۱ ص)

## لګښت کې منځلاريتوب!

**معلی بن زياد وايي: له حسن بصري رحمه الله نه مې اورېدلي پر الله عز وجل به يې سوګند کاوه او ويل به يې: هغه څوک هېڅکله فقير شوی نه دی، چې په لګښت کې منځلاريتوب (اقتصاد) کړی دی.**(مواعظ الامام الحسن البضري، ۱٦۳ ص)

## د شهوت ميراث!

**ډېر ځلې د يو نظر کتلو سره د انسان په زړه کې شهوت پيدا کېږي او ډېر ځلې داسې هم کېږي، چې شهوت خپل خاوند ته اوږد غم په ميراث پرېږدي.**(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱٦۴ ص)

## د جنت توښه!

- دنیا د مؤمن لپاره ښه کور دی، لږ عمل پکې وکړي او د جنت توښه ترې ځان ته تر لاسه کړي.

د کافر او منافق لپاره دنیا بد کور دی، د شمېر شپې گته ترې واخلي او همدا يې د دوزخ لپاره توښه شي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ١٦٥ ص)

- **الصلوات خير موضوع، من شاء استقل، و من شاء استكثر.**(كتاب الزهد لامام أحمد)

**ژباړه:** لمونځ غوره موضوع ده د هر چا خوښه، چې لږ کوي، که ډېر کوي.

- یو سړي حسن بصري رحمه الله ته وویل: ابو سعیده! د دنیا په اړه څه وایي؟ حسن بصري رحمه الله وویل:

و ما عسى أن اقول في دار حلالها حساب و حرامها عقاب.

**ژباړه:** نه ده نږدې، چې زه د هغه کور په اړه څه ووایم، چې د حلالو په اړه يې حساب کېږي او په حرامو يې سزا ورکول کېږي.

## د سرو زرو کرښې!

ابن صبیح وایي: یو کس امام حسن بصري رحمه الله ته له وچکالۍ نه شکایت وکړ، حسن بصري رحمه الله ورته وویل: د الله نه بښنه وغواړه، یاني استغفار وایه!

بل کس ورته وویل: دعا راته وکړه چې الله زوی راکړي، حسن بصري رحمه الله ورته وویل: استغفار وایه!

بل کس ورته د باغ د وچېدلو شکایت وکړ، حسن بصري رحمه الله

ورته وویل: استغفار وایه!

ابن صبیح وایي: موږ ورته وویل: ابو سعیده! تاسې څنګه موږ درېواړو ته د استغفار سپارښتنه وکړه؟

حسن بصري رحمه الله وویل: ما له ځان نه څه شی نه دی ویلي، الله عز وجل سورت نوح کې وایي:

فَقُلۡتُ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّکُمۡ ؕ اِنَّهٗ کَانَ غَفَّارًا ۝١٠ یُّرۡسِلِ السَّمَآءَ عَلَیۡکُمۡ مِّدۡرَارًا ۝١١ وَّ یُمۡدِدۡکُمۡ بِاَمۡوَالٍ وَّ بَنِیۡنَ وَ یَجۡعَلۡ لَّکُمۡ جَنّٰتٍ وَّ یَجۡعَلۡ لَّکُمۡ اَنۡهٰرًا ۝١٢.(نوح)

**ژباړه:** ما وویل له خپل رب نه بښنه وغواړئ، بیشکه چې هغه خورا ډېر بښونکي دي * هغه به پر تاسې له آسمانه ښه اورښتونه وکړي * تاسې ته به مالونه او اولادونه در په برخه کړي، ستاسې لپاره به باغونه پیدا کړي او ستاسې لپاره به ویالې وبهوي.

## دنیا د خوب لیدل دي!

- تېوله دنیا له سر نه تر پایه داسې مثال لري، لکه یو انسان چې ویده شي، په خوب کې د خپلې خوښې ډېر محبوب څیزونه وګوري، ناڅاپه له خوبه راویښ شي (او هېڅ څیز په لاس ورنشي).(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۸۵ ص)
- کوم مسلمان چې د خوب په مهال خپلې بسترې ته ورځي او رب عز وجل یادوي، (د ذکر له برکته یې) بستر ځای د الله لپاره جومات ګرځي او نوم یې د ذاکرینو په لیکلړ کې لیکل کېږي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۸۵ ص)

## عالمان او عمل!

علم د عمل لپاره زده کړئ او عمل پرې وکړئ، په الله سوګند! الله تعالی مو د علم بدله نه درکوي؛ مګر هله چې عمل پرې وکړئ، د ناپوهانو پیاوړې اراده دا وي، چې علم د روایت په بڼه زده کړي او د عالمانو پیاوړې اراده، د علم د رعایت، پاملرنې او عملي کولو په بڼه وي.

دغه راز حسن بصري رحمه الله ویلي:

د الله تعالی په وړاندې د وینا او روایت خاوند څه ارزښت نه لري، د الله تعالی په وړاندې د فهم او درایت خاوند ډېر ارزښت لري.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۸۸ ص)

## د ابلیس ژوند؟!

- الله تعالی په دنیا کې د اوږدې مودې لپاره پاتې کېدل، د خپل بدترین مخلوق (ابلیس) پرته بل چالپاره نه دي ټاکلي.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۹۴ ص)

- کوم لمونځ کې چې زړه حاضر نه وي، داسې لمونځ دې له ثواب نه عذاب ته ژر رسوي.

عدة الكريم، فعل و تعجيل، و عدة اللئيم، تسويف، و تطويل.

(الحسن بصري لابن الجوزي، ۲۲ ص، مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۹۴ ص)

- حسن بصري رحمه الله، نعیم بن رضوان ولید چې په لاره روان و او د کبرجن انسان په څېر یې تګ کاوه حسن بصري رحمه الله وویل: ده ته وګورئ، په ده کې هېڅ داسې اندام نشته؛ مګر په هر اندام کې یې د الله نعمتونه دي.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۹۶ ص)

CamScanner

## ژبې او زړونه!

یا عجبا للألسنة تصف و قلوب تصرف و اعمال تخالف.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۹۶ ص)

یا عجبا لابن ادم، حافظاه علی رأسیه، و لسانه قلمهما و ریقه مدادهما، وهو بین ذالک یتکلم بمالا یعنیه.

(مواعظ الامام الحسن البصري، ۱۹۶ ص)

## د مرګ ګواښ:

یو ځل حسن بصري رحمه الله (اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ) ولوست، بیا یې وویل: إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ.

په الله قسم، د دوزخ له اور نه غافل او د تلپاتې نعمتونو څخه بوخت شوي یو، بیا یې وویل: كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ. ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ.

**ژباړه:** هېڅکله داسې نه ده ډېر ژر به تاسې پوه شئ * بیا (واورئ چې) هېڅکله داسې نه ده ډېر ژربه تاسې پوه شئ.

بیا یې وویل: ای خلکو! که چېرې مخلوق درته د مرګ ګواښ وکړي، پر ځمکه به مو قرار ونه شي، نو د ملک الملوک، همېشني ژوندي ذات له ګواښ نه څنګه غافل یئ؟!

کله به یې چې قرآن تلاوت کاوه او دې سورت ته به ورسېده ترې به نه تېرېده بیا ـ بیا به یې لوسته او ژړل به یې؛ تر دې چې څګېروی به یې غلی شو.(مواعظ الامام الحسن البصري، ۲۰۰ ص)

## مأخذونه!

١: سير أعلام النبلاء (للذهبي)

٢: حلية الأولياء (لأصبهاني)

٣: البداية و النهاية (لابن كثير)

٤: الجامع بين الصحيحين (للشامي)

٥: مواعظ و اقوال الصالحين و الصالحات (للهاني)

٦: مواعظ الحسن البصري (للشامي)

CS CamScanner

## د ژباړن نور آثار

۱) جنت
۲) سل دعاګانې
۳) عمره
۴) الشهيد
۵) د قبر شپه
٦) الشفاء
۷) د ايمان جوړه
۸) د معراج شپه
۹) عملنامه
۱۰) قرآني دعاګانې
۱۱) اسم اعظم
۱۲) د بسم الله ګټې او فضايل
۱۳) څلور کلمې
۱۴) لږ عمل ډېر ثواب
۱۵) اسانه لمونځ
۱٦) اسانه ديني ښوونه
۱۷) اوه شپې ـ اته ورځې
۱۸) سل حديثونه
۱۹) جوامع الکلم
۲۰) جواهر الکلم
۲۱) د مسلمانو مېرمنو لپاره سل احاديث
۲۲) زاد الطالبين (پښتو ژباړه)
۲۳) غونچه (د ماشومانو لپاره سل احاديث
۲۴) د معجزو پيغمبر

CamScanner

۲۵) جواهرات (د صحابو ویناوې)

۲۶) د سرو زرو خبرې

۲۷) د سرو زرو کربښې (د حسن بصري رحمه الله ویناوې) (همدا اثر)

۲۸) د سپینو زرو خبرې (عبدالله بن مبارک رحمه الله ویناوې)

۲۹) طلايي خبرې

۳۰) مرغلرې

۳۱) زړه د چا دی؟

۳۲) له ژوند سره مینه وکړئ!

۳۳) وخت له تا مینه غواړي!

۳۴) المأثورات (مستند ذکرونه او دعاګانې)

۳۵) موسکا

۳۶) د لمر وړانګې (دیني پوښتنې او ځوابونه)

۳۷) اقرأ قاعده

۳۸) دغه ګل دی دغه خار (د عبدالرحمن بابا څو شعرونه)

۳۹) شنه پاڼه

۴۰) الجواهر النبوية (۳۱۹) احادیث

۴۱) منهاج المسلم (پښتو ژباړه)

۴۲) مختصر الفوائد (پښتو ژباړه)

۴۳) رڼا درسره واخله!

۴۴) ممتاز شخصیت

۴۵) حج

۴۶) زړه په احادیثو کې

CS CamScanner